


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړ لیک

فیوډالېزم څه شی دی؟ ........ 12
اروپايي فیوډالېزم........ 17
د اروپايي فیوډالېزم پرمختګ........ 17
ویسل ........ 19
د کلیسا رول ........ 20
سرف یا بزګر ........ 21
امتیازات او مراعات ........ 23
نائټ Knight: ........ 24
د لویو فیوډالانو د اوسېدو ځایونه........ 27
د ښځو حیثیت........ 29
هلکان او زده کړې........ 30
د فیوډالي نظام خصوصیات ........ 30
د فیوډالیزم زوال ........ 34
انګلستان........ 34
فرانسه........ 38
جرمني (پروسیا) ........ 42
مسلمان حاکمان او د ځمکوالۍ نظام ........ 45
د سلطنت د وخت فیوډالېزم ........ 46
د مغلو د وخت فیوډالېزم ........ 48

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مغلي فيوډاليزم زوال ........ 50
اجاره داري ........ 51
فيوډالي کلتور ........ 53
کورنۍ ........ 53
عزت ........ 54
وفاداري ........ 55
مصروفيتونه ........ 56
دوستي او دښمني ........ 57
د قانون نه لوړتيا ........ 58

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کتاب نوم: فيوډالېزم (جاګيرداري)

ليکوال: ډاکټر مبارک علي

ژباړه او لنډيز: زاهدخليلي zahidkhalili@yahoo.com

کمپوزر: په خپله ژباړن

ډيزاين چارې: عبدالهادي اثر ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳

خپرندوی: مومند خپرندويه ټولنه – جلال اباد

بريښناليک: Momand.books@gmail.com

چاپ کال: ۲۰۱۳م/۱۳۹۲هـ

چاپ شمېر: ۱۰۰۰

چاپوار: لومړی

د بيا چاپ حقونه د خپرندويې ټولنې سره خوندي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فيوډاليزم

## (جاګيرداري)

ليکوال: ډاکټر مبارک علي

ژباړه او لنډيز: زاهد خليلي

د ژباړن خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دريو کلونو راهيسې مې زه او ملګري تاريخ لولو، اکثره وخت به د لويديځ په تاريخ کې د فيوډاليزم يا ځمکوالی د کلمې سره مخ کيدو، يوازې په دې باندې پوهيدو، چې فيوډاليزم د ځمکې يو ډول سيستم وه، چې د اروپا د منځنيو پيړيو په تاريخ کې تير شوی دی، ځيني خصوصيات مو هم لوستي وه؛ خو، نور پرې پوره نه پوهيدو، چې دا فيوډاليزم کله، څنګه او چيرته رامنځته شوی دی؟.

زه د تيرو دريو کلو راهيسې په هفته کې خامخا يوه ورځ کتابتونو ته تلم؛ خو، د فيوډاليزم د نظام په اړه مې کوم داسې ځانګړی کتاب ونه ليد، ځانګړی څه چې داسې کتاب نه وه، چې د لويديځ په تاريخ، هغه که د لرغونو، منځنيو او معاصرو پيړيو تاريخ وي، پيدا کړم، زموږ کتابتونونه ټول د غورچاڼونو، زر چاڼونو او ناولونو نه ډک دي، په داسې حال کې، چې پښتو ژبه د نړيوال تاريخ او سياست په ډګر کې ډيره غني نده، د هغوی خلکو څخه، چې ليکل کولای شي يا ژباړه کوي، هيله مې داده، چې که د خپلې ټولنې پرمختګ غواړی؛ نو، هغه څه ورته وليکی يا وژباړی، چې نن پښتانه او پښتو ژبه ورته ډيره اړتيا لري، موږ نړيوال تاريخ، سياسي علومو، ساينسي علومو، طب، کيميا، جغرافيه، بيالوژي او نورو علمي کتابونو ته اړتيا لرو، نه.....

په هر حال، څه وخت مخکې احمد بلال موږ کره راغی، د هغه سره دا کتاب وه، خوښ مې شو، د کتاب موضوع او ليکوال يې ډير اوچت وه او څرنګه چې په پښتو ژبه کې ددې موضوع اړوند کوم کتاب نه وه؛ نو، د هغه نه مې هيله وکړه، چې دا کتاب ماته راکړي، تر څو د خپلو ټولګيوالو او د تاريخ د مينه والو لپاره يې پښتو کړم، کتاب مې وژباړه او نن دادی ستاسو په لاسو کې دی.

د ژباړې په هکله بايد ووايم، چې د کتاب په بنه دا زما لومړنی ژباړه ده، کيدای شي، چې ځينې نيمګړتياوې به ولري، د ملګرو څخه مې هيله ده، چې غلطۍ راته اصلاح کړي، کتاب مې ځکه را لنډ کړ، چې زياتره موضوعات د هند او پاکستان د معاصر فيوډاليزم پورې تړلي وه او د پاکستان د ازادۍ نه وروسته يې ځيني راپورونه وړاندې کړي وه، چې زموږ د اصلي موخې سره يې دومره تړاو نه درلود، د کتاب ليکوال د هند د براعظمګي تکړه ليکوال دی، په جرمني کې يې په تاريخ کې ډاکټري اخيستې او د سلو په شاوخوا کې يې کتابونه ليکلي دي، په پای کې بيا خپله هغه غوښتنه، چې د ليکوالو او ژباړونکو نه مې کړې ده، يو ځل بيا تکراروم.

په درنښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



زاهدخليلي

ننګرهار پوهنتون

د ښوونې او روزنې پوهنځي د تاريخ ديپارتمنت د دريم کال زده کړيال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

**وتلي ليکوال او سياسي شخصيت استاد محمد زمان مزمل**

**او د شرعياتو پوهنځي استاد دوکتور عزيزالرحمن ته**

ز.خ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سريزه

مؤرخينو د تاريخي پيښو د ښه پېژندلو لپاره، تاريخ په سياسي، ټولنيزو او نورو مختلفو دورو باندې ويشلی دی او ددې لپاره، هغه افکار، تغيرات او اخلاق چې په مختلفو دورو کې منځته راغلي دي، په صحيح ډول مطالعه شي. د تاريخ د لومړنی زماني نه وروسته د ښکار زمانه، د غلامۍ زمانه او ورپسې د فيوډالی (ځمکوالی) زمانه راځي. د ځمکوالۍ نظام په اروپا او په ځانګړي ډول په لويديځه اروپا کې د هغه وخت د سياسي او ټولنيزو حالاتو په نتيجه کې رامنځته شو او د همغه وخت د سياسي حالاتو سره يې يو ځای پرمختګ وکړ. د نړی په نورو هيوادو او ټولنو کې يې شکل تغير درلود. د چين، جاپان او منځني ختيځ د ځمکوالۍ نظام يو د بل سره توپير درلود. په دې ټولو دولتونو کې ځمکه او د ځمکې حاصل د څو اشخاصو په لاس کې وه، چې ددې په وجه په ټولنه کې مختلف طبقات رامنځته شوي وه. د هغو خلکو په لاس کې چې ځمکې او حاصلات وه، هغوی د خپلو ګټو لپاره په ټولنه کې مختلف سياسي، مذهبي او ټولنيز روايات رامنځته کړي وه او دا ټول يې د خپل ځان تابع ګرځولي وه.

موږ د تاريخ نه ډېر څه زده کړي، د هغو زده کړو څخه يوه دا هم ده، چې افکار، نظريات، روايات، دولتونه او نور د خاصو حالاتو او اړتياوو د پوره کولو لپاره په مختلفو وختونو کې رامنځته کيږي او کله چې يې عملي کيدل پای ته ورسيږي؛ نو، ورسره د هغوی موجوديت هم له منځه ځي. دا ډېره ضروري ده، چې يو نظام د خپلې بقا لپاره د وروستي وخت لپاره کوښښ وکړي او نظام د خپلې بقا لپاره په خپل وجود کې ځيني تغيرات منځته راوړي، تر څو د خطرونو مقابله وکړي.

ددې يو مثال د ځمکوالۍ نظام دی. دا نظام چې په کوم شکل باندې رامنځته شوی وه، د وخت په تيريدو يې د خپلې بقا لپاره ځيني تغيرات قبول کړل؛ خو، کله چې يې د حالاتو مقابله ونه شوه کړای؛ نو له ګيډې څخه يې يو بل نظام راووت شو، چې د ځمکوالۍ نظام يې پای ته ورساوه.

په تاريخ کې داسې هم شويدي، چې يو نظام ورو، ورو له منځته تللی وي؛ خو داسې هم شته، چې نظام په يو ځل د يو انقلاب په ترڅ کې له منځه ولاړ شي، په دې دواړو صورتونو کې د نظام د زوال سره د هغه وخت کلتور هم له منځه ځي. په داسې حال کې چې کلتور د خپلې بقا لپاره کوښښ کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نښې يې د ډېر وخت لپاره پاتې کيږي. ددې يو مثال اروپايي ټولنه ده، چېرته چې مات شوي فيوډاليزم د اخري وخت پورې د خپل کلتور د ساتلو لپاره کوښښ کاوه؛ خو د صنعتي کلتور د رامنځته کيدو سره، ځمکوالي کلتور د تېر وخت يوه برخه وګرځيده.

د صنعتي انقلاب په رامنځته کيدو سره د ځمکوالۍ نظام په ځينو هيوادو کې پای ته ورسيده؛ خو اوس هم داسې دولتونه شته، چې هلته د ځمکوالۍ او د صنعتي انقلاب د اصلاحاتو تر منځ جګړه روانه ده. داسې ټولنې هم شته، چې هلته د ځمکوالۍ، صنعتي اصلاحاتو او قبائلي رواياتو تر منځ ټکر موجود دی.

ډاکتر مبارک علي

۱۹۹۶ اګست، لاهور

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فیوډالېزم څه شی دی؟

د فیوډالیزم لفظ د فیو (Feu)، فیوډ (Feud) یا (Feudum) څخه اخیستل شوی دی. دا د ځمکې یو ډول سیستم وه، چې ذکر یې د منځنیو پیړیو د قانون په کتابونو کې شوی دی. په فرانسوي ژبه کې دا لفظ فیوډالیتي (Feodalite) شو. ددې څخه مخکې دا د فیف (Fief) په شکل ویل کیده.

د ځمکوالۍ د قوانینو مشهور کتاب (Libri Feudorum) د (فیف اړوند قوانین) په نوم یادیږي. ددې کتاب راټولوونکی د ایټالیې د میلان د ښار یو اوسیدونکی وه. په دې کتاب کې د فیف په اړه ټول قوانین، رواجونه، روایات او نور ډېر څه په کې لیکل شوي وه. په دې کتاب کې د ځمکې د ورکړې پیل، د ځمکې چاته ورکول، د ځمکې ظبطول او نور ډېر مهم مسائل په کې شامل وه.

کله چې رومي امپراتوري د زوال سره مخ شوه؛ نو، په نتیجه کې یې د لویو ځمکو د خاوندانو په اختیاراتو کې زیاتوالی راغی. په دې بې امنه او ګډه وډه زمانه کې بزګر د قوي او لویو خلکو په لاس کې پناه واخیسته. دغه پناه به په دې شرط ورکول کیده، چې د خپلې ځمکې د ملکیت حق به یې د هغوی په لاس کې وي. ددې تغیراتو په پای کې، چې کوم ډول فیوډالیزم منځته راغی، تعریف یې مارک بلوخ په خپل مشهور کتاب (فیوډالي ټولنه) کې داسې کړی دی: په دې نظام کې بزګر د رعیت حیثیت درلود. دې رعیت ته د مزدورۍ او کار کولو پیسې نه ورکول کیدې، بلکه د نغدو پیسو پر ځای به یې جنس ورکاوه.

د فیوډالیزم د پرمختګ په اړه د هندوستان مشهور مؤرخ کوسمبی داسې لیکلي: یو ډول داسې فیوډالیزم وه، چې د پورته طبقې یانې پاچا لخوا به نافذ کیده، په دې فیوډالیزم کې پاچا د لاس لاندې طبقو باندې خراج وضع کاوه. د لاس لاندې طبقې فیوډالان به په خپلو کې سیمو کې د پوره واک خاوندان وه، تر څه وخت پورې به چې فیوډالانو پاچا ته خراج ورکاوه؛ نو فیوډالانو ته به اجازه وه، چې څنګه وغواړي په خپله سیمه کې حکومت کولای شي.

دویم ډول فیوډالیزم داسې وه، چې د لاندې طبقې څخه یې پیل کیده. په دې ډول فیوډالیزم کې، فیوډالانو په خپلو سیمو کې د خپل حکومت د ټینګولو لپاره د فوځي طاقت او قوت نه استفاده کوله. په دې ډول دغو حکومتونو د ریاست، سلطنت او د بزګرانو تر منځ د پل حیثیت درلوده. مرکزي حکومت سیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایزو فیوډالانو ته ددې حق ورکړی وه، چې د خلکو څخه ټیکس واخلي او د ضرورت په وخت د سلطنت سره فوځي مرسته وکړي. په دې ډول فیوډالیزم کې د فیوډالانو کارکوونکو ټیکس اخیسته او لوړو مقاماتو ته یي لیږه. په داسې حال کې، چې په لومړي ډول فیوډالیزم کې ټیکس د مرکزي حکومت کارکوونکو جمع کاوه.

ددې وروسته کوسمبی د اروپایي فیوډالیزم د خصوصیاتو په اړه داسې لیکي:

- فیوډالیزم داسې یو نظام وه، چې د جنس د تولید وسائل او الات په کې معمولي وه او په اسانی سره جوړیدل. په دې نظام کې د تولید عمل انفرادي وه او خواري او محنت هم په لومړني حالت کې وه.
- تولید یوازې د کورنۍ لپاره وه، د کوم مارکیټ یا مندوي لپاره نه وه.
- د نورو په ځمکو باندې کار (کرل) کیدل.
- د سیاسي حالاتو د بدلیدو سره د ځمکې د ملکیت حق تغیر کاوه. کله به د ځمکې ملکیت د پاچا او کله د کوم سردار (مشر) په لاس کې وه.
- په ځمکه باندې به په مشروط ډول باندې قبضه وه. د راجپوتانو او مسلمانو ترکي فاتحینو په وخت کې ځمکې په مشروط ډول د ځمکوالو په لاس کې وې. دا ځمکې په وراثت باندې نه ورکول کیدې. دغه شخص د هغه وخت پورې د ځمکې خاوند وه، تر څو پورې چې یې فوځي خدمت کاوه.
- د قاضي په صفت دنده اجراء کول. په دې مانا چې ځمکوال به په خپله سیمه کې د قاضي په صفت د سیمې د جګړو پریکړې کولې.

کوسمبی ددې خبرې یادونه کړې، چې د هند په فیوډاله ټولنه کې درې شیان موجود نه وه. د غلامۍ اداره، اتحادیي(صنفونه) او کلیسا. ددې پر ځای په هند کې د ټیټ او لوړ ذات صفات موجود وه، چې د اتحادیو او کلیسا ځای یې نیولی وه.

ځیني مؤرخین ددې پر ځای چې دا یوه ټولنیزه اداره ومني، فیوډالیزم د سیاسي ادارې په توګه مني، ځکه چې د هغه پر اساس حکومت کیده؛ نو ځکه یې سیاسي اهمیت زیات وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني نور دا نظر وړاندې کوي، چې دا په خپل ذات کې يوه محدوده اداره وه، ځکه چې توليد يوازې د خپل ځان لپاره وه، د سوداګرۍ لپاره نه وه؛ ځکه نو په ټولنيز ډول دا يوه کمزورې اداره وه. ددې يو هدف دا وه، چې زراعتي توليد په زور سره لاسته راوړل شي او دا ددې لپاره چې د امدن نه يې يو قوي حکومت جوړ شي. د بزګرانو نه د زياتې اندازې مال د لاسته راوړلو لپاره يې د هر ډول سياسي واک د استعمالولو او قانون نه کار اخيسته. په دې حال کې بزګر، چې د توليد اصلي توليدونکی وه، د توليد د ګټې څخه بې برخې کيده.

په دې اساس په دې نظام کې تر ټولو بد ژوند د بزګرانو وه؛ ځکه، چې د توليد لپاره به ټوله خواري همدې بزګر کوله او په زور سره به دوی په ځمکو کې په کار باندې ګمارل کيدل، د دوی بل مشکل دا وه، چې د توليد لپاره بازارونه (مارکيټونه) موجود نه وه؛ ځکه يې نو مجبوراً په کروندو کې کار کاوه، په داسې حالت د هغوی ژوند تل يو شان وه، که دوی ته به ددې اجازه ورکړل شوه، چې کرونده پريږدي؛ نو بل داسې ځای نه وه، چې دوی هلته خواري او مزدوري کړې وای، کروندې د دوی لپاره پناه ځايونه او د روزی د لاسته راوړلو يوازينۍ لاره وه. د بزګر ازادولو لپاره د قانون اړتيا نه وه، بلکه متبادله لاره يې په کرونده کې کار کول وه. په منځنيو پيړيو مزدوري په بازارونو کې نه پيداکيده، خو فيوډالانو ته د بزګرانو پيداکيدل ډېر اسانه وه او په دې سره فيوډالانو خپله سياسي او ټولنيزه برتري جوړه کړې وه.

د فيوډاليزم يو شکل هغه وه، چې کله به يوه امپراتوري جوړيده؛ نو دوی به په مختلفو سيمو کې د امن و امان د راوستلو لپاره د بزګرانو نه کار اخيسته او د ټيکس د راټولو لپاره يې هم ترې کار اخيسته او هم به يې د اړتيا پر مهال فوځي خدمت کاوه، واکمنو ته دا ستونزمنه وه، چې دوی دې په مرکز کې اوسيږي او په ليرې علاقو کې دې امنيت هم موجود وي، دوی به په دې سيمو کې خپلو افسرانو يا هلته موجود فوځيانو ته دا دنده ورکوله، تر څو د هغه ځای د ټيکس په مقابل کې هلته امنيت وساتي او هغه ته وفادار پاتې شي، په دې وخت کې به ځمکه د حکومت سره وه او په وراثت کې به يې افسر يا کوم بل ساتندوی ته نه ورکوله.

کله به چې نوی حاکم راغی، يا به کوم فاتح کومه سيمه ونيوله؛ نو، دوی هغو لويو ځمکوالو ته هيڅ نه ويل، کومو چې به د هغه سره همکاري کړې وه، مګر کومو کسانو به، چې د پخواني حاکم سره همکاري کړې وه؛ نو د هغوی نه به يې ځمکې اخيستې، نويو فاتحينو به ځمکې خپلو وفادارو ملګرو ته ورکولې او يا به يې پخوانيو ځمکوالو ته ورکولې، چا چې به د نويو فاتحينو شرائط منل، مثلا په هند کې چې ترکانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځان سره ترکي يا ايراني خلک راوستل؛ نو ځمکې يې هغوی ته ورکړې، مغلو د هغوی بر خلاف خپلو وفادارو ملګرو ته ځمکې ورکړې او نور وفادار ځمکوال يې په خپل حال پريښودل.

ددې لپاره به، ځمکوالو د خپلو ځمکو او امتيازاتو د ساتلو لپاره د وخت مطابق خپلې وفادارۍ ته تغير ورکاوه، دغه وفاداري د ځمکوالو کار وګرځيده؛ ځکه د فيوډال لپاره تر ټولو مهم شی ځمکه وه، د کوم پواسطه چې هغه (فيوډال) ته سياسي او ټولنيزه برتري حاصليده، فيوډال د ځمکې د لاسته راوړلو لپاره هر ډول اخلاقي او ټولنيز اصول پريښودل، د ځمکې په مقابل کې به يو فيوډال ته قوم، نسل او هيواد کوم ارزښت نه درلوده.

حاکمانو هم ځمکې ددې لپاره تقسيمولې، تر څو د ځان لپاره ملاتړي پيداکړي، که به ځمکه کمه شو؛ نو پاچا به د خپلې ځمکې څخه فيوډالانو ته ځمکه ورکوله، لکه څنګه چې په اروپا کې وشول، هلته پاچانو د کليسا په ځمکو باندې قبضه وکړه او په خپلو امرينو باندې يې تقسيم کړه. د انګلستان پاچا شپږم هنري هم همداسې وکړل، هغه په۱۴۴۵ او د ۱۵۳۵ کلونو تر منځ د کليسا ځمکې په خپلو ملاتړو باندې وويشلې. که به پاچا ته د ځمکې اړتيا پيښه شوه؛ نو په ځمکو به يې قبضه کوله او په دې سره به يې خپل طاقت او دولت دواړه زياتول.

د فيوډاليزم دويم ډول داسې وه، کله به چې کومه امپراتوري ړنګه شوه؛ نو لويو ځمکوالو به د خپلو سيمو واک په خپل لاس کې واخيست او د مرکزي حکومت د واک نه به يې انکار کاوه. په اروپا کې ددې مثال د کارد لنجين امپراتوري ده، په لرغوني هندوستان کې ددې مثال د موريه سلطنت دی او په اوسني وخت د مغلو حکومت ددې ډول فيوډاليزم ښه مثالونه دي، د دوی لوی ځمکوال قوي شول او په خپلو سيمو کې واکمن شول او د هغه ځای امدن يې په خپله اخيسته.

که فيوډالي ټولنې (ادارې) ته لږ نظر واچوو؛ نو درې شيان به په کې وګورو، د بزګر غلامي، ځمکوال او ځمکه د اقتصادي واحد په توګه استعمالول. کله چې دغه درې عناصر قوي وي؛ نو ددې په پايله کې سوداګري د زوال سره مخ کيږي او د ښارونو ابادي هم ورسره نه لوړيږي؛ ځکه کله چې سوداګري لوړيږي او د ښارونو ابادي زياتيږي؛ نو فيوډاليزم د زوال سره مخ کيږي؛ ځکه بزګرانو ته په ښارونو کې وظيفې په اسانی سره پيداکيږي او د ښارونو پريښودو ته اړ کيږي. کله چې حکومت د سوداګرو حوصله لوړوي؛ نو فيوډالان يې مخالفت کوي او د بزګرانو په حرکتونو باندې بنديز لګوي، ځکه د فيوډالان د توليد انحصار په بزګر باندې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فیوډالیزم ددې لنډې پیژندنې موږ په دې پوه شو، چې فیوډالیزم په هر هیواد کې په خاصو حالاتو کې منځته راغلی دی او وخت په تیریدو سره په کې تغیرات راغلي دي، د فیوډالیزم یو جامع او مکمل تعریف ډېر ستونزمن دی، لیکن د فیوډالیزم په عمومي خصوصیاتو کې داسې ویلای شو، چې په دې نظام کې فوځي طبقه په اقتصاد باندې واکمنه وه، د بزګرانو د خوارۍ لاسته راوړل، د حاکمې طبقې د ساتلو لپاره د اخلاقي، ټولنیزو او مذهبي قووتونو منځته راتګ.

حوالي:


1- John Critchely: Feudalism, London 1978.

2- Marc Bloch: Feudal Society, Chicago, 1964.

3- D. D. Kosambi: An Introduction to the study of Indian history. Bombay, 1956, 6th edition.

4- Harbans Mukhia: Perspective on Medieval India history, Dheli 1994.

5- Ibid.

6- Ganshof: Feudalism. London 1952.

7- T.J Byres and Harbans Mukhia. Feudalism and Non-European societies. London 1985.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اروپايي فيوډاليزم

## د اروپايي فيوډاليزم پرمختګ

په اروپا کې فيوډاليزم د رومي امپراتورۍ د زوال او د جرمني قبائلو د فتوحاتو په نتيجه منځته راغی، ددې نظام جراثيم د رومي امپراتورۍ په فوځي نظام کې چې مخکې موجود وه هم ښکاريدل، کله چې پخوانی نظام له منځه ولاړ؛ نو د توليد د پيداکولو لپاره يې فيوډاليزم رامنځته کړ، دې نظام ورو، ورو پرمختګ وکړ. کله چې د ايټاليي او ګال ښارونه د جرمني قبائلو د حملو څخه محفوظ پاتې شول او په ښارونو کې چور، چپاول پيل شو؛ نو د هغه ځای امرين د خپل ځان د ساتلو لپاره کليو ته ولاړل او ښارونه يې همداسې پريښودل، همدغه وجه وه، چې په دغه وخت کې ښارونه وران شول او رومي امپراتورۍ په وخت کې ودان شوي ښارونه او لوړ تعميرونه وران، ويجاړ شول. د سياسي قوت د زوال سره لويې لارې هم ورانې شوې او د استعمال څخه ولويدې، ددې په ورانولو سره د کليو او ښارونو تر منځ اړيکې پرې شوې، د لويو لارو په ويجاړيدو سره ډاکوانو او د لارو غلو تجارتي مالونه لوټل پيل کړل او سوداګرې هم زيانمنه شوه، په دې سره د ښارونو د زوال سره د سوداګرۍ زوال هم پيل شو.

په داسې حالاتو کې کلي اړ شول، چې په خپل ځان باندې متکي شي، په کليو کې يوازې بزګرانو ژوند نه کاوه، بلکه د نورو اړتياوو د پوره کولو لپاره موچيانو، جولاګانو، خټګرانو، پښانو او نورو خلکو هم په کليو کې ژوند پيل کړ، دغو خلکو د کليو د په ځان متکي کولو او د اقتصاد په جوړولو کې لوی رول ولوبوه. په دغه ګډه وډه سياسي فضاء کې، هغو خلکو، چې فوځ ورسره وه، په بزګرانو کې يې ويره او ترهره خپره کړه او په دې سره يې خپل لوړوالی وساته، بل خوا بزګرانو ته د خپلو کورونو او کروندو د ساتلو اړتيا وه؛ ځکه نو دوی د سردارانو په ولکه کې ځان راوستل ومنل. په دې سره يو خوا کلي د اقتصاد له پلوه په ځان باندې متکي شول او بلخوا دوی د لويو ځمکوالو (سردارانو) په ولکه کې راغلل. فيوډالانو(سردارانو) د کليو شخړې هم حل کولې او خپل عدالت خونې يې هم جوړې کړې وې، چې دوی به هلته د کليوالو د جګړو پريکړې کولې، دوی ته دا اختيار وه، چې په سختو جرمونو باندې د مرګ سزا يا لويه جرمانه وضع کړي، په خلکو باندې د ټيکس لګول، د قيمتونو ټاکل، د خلکو د ارامتيا لپاره د پلونو او سړکونو جوړول او د دښمنانو نه د هغوی ساتل د فيوډالانو دندې وې، د هغوی د اوسيدو ځايونه ډېر ښکلي وه. په دې ډول د دريمې څخه تر پنځمې زيږدي پيړۍ پورې د عامو خلکو او لويو ځمکوالو ترمنځ ډېرې ښې اړيکې موجودې وې، چې فيوډالانو به د بزګرانو سرپرستي، حفاظت او د هغوی دفاع کوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم به يې د هغوی تر منځ امنيت هم ساته، ددې په بدل کې خلکو د هغوی اطاعت او د هغوی فوځې خدمت کاوه، ټيکسونه(ماليي) يې هم ورکولې او خپل زيات توليد به يې هم هغوی ته ورکاوه، تر څو فيوډالان خپل د فوځ او خپل مصارف پوره کړي.

کله، چې په اروپا کې د کارولنجين او ميرونجين امپراتورۍ رامنځته شوې؛ نو هغوی خپلو امرينو ته ځمکې ورکړې، تر څو هغوی د ځمکو پواسطه حکومت وکړي؛ خو کله چې په نهمه او لسمه زيږدي پيړۍ کې دا امپراتورۍ کمزورې شوې؛ نو فيوډالانو ددې حالت څخه په ګټې اخيستنې سره په دې ځمکو باندې ولکه ټينګه کړه او په خپلو کورنيو کې يې ميراثي ورګرځوله. د اروپا سياسي حالاتو د هغوی په خودمختارۍ کې د هغوی سره مرسته وکړه؛ ځکه کله، چې عربانو، نورز او ميګارانو حملې پيل کړې، په دې سره مرکزي حکومتونه کمزوري شول او د سيمه ايزو فيوډالانو اختيارات زيات شول، تر دې پورې چې فيوډالانو د خپلو سيمو دفاع په خپله پيل کړه.

څرنګه چې په دې وخت کې د دفاع لپاره د اسونو د چلولو اړتيا زياته شوه؛ نو په فرانسه، انګلستان او هسپانيه کې هغه چا چې په ښه طريقه سره اس زغلاوه، د هغوی اهميت زيات شو، ددې حملو له امله خلکو د خپل ځان د ساتلو لپاره د لويو ځمکوالو د کورونو شاوخوا خپل کورونه اباد کړل، د يو کور شاوخوا د پنځوسو څخه تر پنځوسوو پورې بزګرانو ژوند کاوه، په دې ډول به بزګرانو د فيوډالانو ساتنه کوله او هغوی ته به يې خپله وفاداري ښودله.

د فيوډاليزم اساس په وفادارۍ باندې وه، بزګر به خپل مشر(فيوډال) ته فوځې خدمت کاوه، د خدمت په بدل کې به بزګر ته ځمکه د کرلو لپاره په ميراث باندې پاتې کيده، بزګر به د لږو پيسو په ورکولو سره ددې اجازه تر لاسه کړه، چې، د فيوډال د ځنګل څخه د لرګيو، د فيوډال د تنور څخه د ډوډۍ د پخولو لپاره ګټه واخلي.

په لومړيو کې ځمکې ميراثي نه وې، فيوډال به چې چاته ځمکه ورکړه؛ نو د مرګ څخه وروسته به يې د کورنۍ حق پر ځمکه باندې نه پاتې کيده؛ خو وروسته په کې تغير راغی، هغه بزګران چې د ځمکو خاوندان وه، هغوی ته به په ميراث کې ورکول کيده. په ۸۶۸ ز کال کې د بالډ په وخت کې د ميراث اصل په دې شرط ورکول کيده، چې هلک يې بايد وړتيا ولري؛ خو د جينکو لپاره معيار ټاکل ستونزمن وه، په دې ډول په ځمکو باندې د کورنيو حق پاتې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وراثت د اصولو په اساس ځمکه مشر هلک ته ورکول کيده، په روميانو کې دا اصل نه وه؛ خو وروسته د ځمکې د ساتلو لپاره دا په هغوی کې هم رامنځته شو، ددې دليل دا وه، چې د کورنۍ مشر هلک د پوخ عقل خاوند وي؛ نو ځکه يې ځمکه هغه ته ورکوله، چې فوځي او اقتصادي خدمت په ښه طريقه سره سرته ورسوي.

## ويسل

لويو ځمکوالو خپل رعيت ته (چې د هغوی تابع وه) ، د خدمت په بدل کې څه ځمکه د کرلو لپاره ورکوله، خو د ځمکو اصلي مالک به لوی ځمکوال وه، دغه ويسل (تابع، نوکر) به دغه ورکړل شوې ځمکه نورو نوکرانو ته ورکولای شوه، د دوی تر منځ به هغه شرطونه وه، کوم چې د نوکر او ځمکوال تر منځ موجود وه، په دې ډول په ټولنه کې په ځمکوالو کې طبقې رامنځته شوې، په دوی کې تر ټولو لوړ پاچا ورپسې لوی ځمکوال، ورپسې ويسل او د ويسل نور ويسلان(نوکران). د دوی د ترلو يوازينۍ لار د دوی ترمنځ اقتصادي او سياسي اړيکې وې، دوی به يو د بل سره کومک کاوه او هم به يو بل ته وفادار وه.

د يو ويسل لارډ(لوی نوکر) نه د ځمکې د لاسته راوړلو وروسته به ځانګړې محفلونه جوړيدل، د ځمکې د لاسته راوړلو وروسته به هغه د خپل مشر خدمت کاوه، ددې لپاره به د هغوی څخه عهد اخيستل کيده، دا عهد(تړون) به په تورات، انجيل(بائبل)باندې کيده، په منځنيو پيړيو کې د بائبل اهميت د عقيدې له نظره ډېر زيات وه، ځکه ددې تړون پر ضد عمل کولو والا به داسې ګڼل کيده، لکه ده، چې د خدای يا د کوم ولي سره تړون مات کړی وي او په دې ډول هغه به د سزا نه ويريده.

د وفادارۍ دا محفل به په کوم مجلس کې جوړيده، په دې محفل کې به ويسل سرتور سر د خپل لوی ځمکوال په مخ کې حاضريده، د خپلو تورو سره به يې د هغه مخ ته خپل سر ټيټوه او خپل دواړه لاسونه به يې د هغه په لاسونو کې ورکول، په دې ډول به هغه خپل بادار ته د وفادارۍ ثبوت ورکوه، بادار به ددغه عمل په ترسره کولو سره هغه په خپله ساتنه کې اخيسته، د لاس دې ورکولو مطلب خپل ځان نورو ته د سپارلو په مانا وه، ددې نه دا خبرې(متلونه) جوړ شول، چې لاس ونيسه، لاس په لاس او نور، ددې وروسته به هغه د خپل بادار لاس ښکلوه او د هغه سره به د وفادارۍ تړون کاوه، ددې وروسته به بادار هغه جګ کړ او نښې په شان به يې هغه واښه، دست کشې يا نور څه ورکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویسل به د هغه سره دا تړون کاوه، چې په خپل بادار باندې هیڅ حمله نکوي، که د بادار پر ضد یې کوم سازش کیږي، باید خبر ورکړي، په جګړه کې به یې همکاري کوي او یوازې به یې نه پرېږدي. د خپل بادار ښځه، خور یا لور باید په تنګ نه کړي، د هغوی بې عزتي وکړي. که بادار به یې تړون مات کړ، د خپل ویسل، د قتل کولو کوښښ یې وکړ، مړ یې کړ، د هغه د غلام کولو کوښښ یې وکړ، د هغه ساتنه یې ونکړه، د تورې پواسطه یې پرې حمله وکړه، په دې صورت کې به ویسل خپلې دست کشي وغورځولې او د وفادارۍ تړون به یې مات کړ.

د نهمې پیړۍ پورې داسې حال وه، چې یو ویسل به څو باداران درلودل، په دې وجه تړون کمزوری شو، که دده د بادارانو تر منځ به جګړه وشوه، دده لپاره به دا مشکله وه، چې د چا پلوي وکړي.

ددې تړون څخه دا مالومه شوه، چې د سیاسي حالاتو له وجې د بادار او ویسل تر منځ بې اعتمادي موجوده وه، په دې تړون کې له یوې خوا مذهب شامل وه، د بل طرف نه رواجونه او د خلکو شاهدي وه، ددې په وجه ویسل دغه تړون په کلک ډول ټینګاوه، د دواړو خواوو څخه چې د ښځو په اړه کوم تړون کیده، ددې څخه دا مالومیږي، چې ښځې څومره غیر محفوظې وې، د همدې لپاره یې په تړون کې د ښځو د ساتلو د دفاع لپاره مادې ذکر کړې وې، تاریخي پېښو څخه دا مالومیږي، چې ددې تړون په موجودیت کې هم د دواړو خواوو تر منځ بې اعتمادي موجوده وه او ځینې وخت دواړه خواووې تیارې وې، چې تړون مات کړي.

په لومړیو کې ویسل ته ځمکه په میراث کې نه پاتې کیده؛ خو د وخت په تیریدو سره یې میراثي بڼه غوره کړه، د پلار د مړینې وروسته به ځوی بادار ته څه پیسې ورکړې او په دې ډول به هغه د ځمکې وارث کیده، د ویسل یوه ذمه واري دا هم وه، که چیرته به یې بادار دښمنانو ونیوه؛ نو د راخوشې کولو لپاره به یې تاوان ویسل ورکاوه، که چیرته به د بادار مشر زوی نائټ وه او د کشرو لورګانو واده به یې وه؛ نو ټول مصرف به ویسل ورکاوه.

## د کلیسا رول

په اروپا کې کلیسا هم یوه فیوډالي اداره وه؛ ځکه پاچا او لویو ځمکوالو(فیوډالانو) به د ثواب په خاطر او د کلیسا د حمایت لپاره ځمکې د بخشش په ډول ورکولې، دې کار کلیسا د اروپا تر ټولو لویه فیوډاله اداره جوړه کړې وه، د کلیسا مشرانو او نورو کوچنیو مشرانو به پاچا ته د وفادارۍ حلف(لوړه،قسم) ورکاوه او هغوی ته به یې د ډیوک او کاونټ لقبونه ورکول. دغه ځمکې به د کلیسا ملکیت وه، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکو ساتونکي بدليدل؛ خو امدن به يې کليسا ته ورته، د کليسا د ډېر مال په وجه به، د کليسا اداره کوونکي په لوړو چوکيو باندې دندې اجراء کولې، کليسا به د لويو ځمکوالو په شان د عدالت پريکړې کولې، زراعتي سيستم به يې تنظيموه او فوځي خدمت به يې هم کاوه.

په ځينو حالاتو کې به چې د حاکمانو حالت خرابيده، په دې وخت کې به يې د کليسا په ځمکو باندې قبضه کوله؛ خو دې کار د حاکمانو د قدرت او قوت پورې اړه درلوده. د فرانسې د انقلاب په دوران کې هم د کليسا په ځمکو باندې قبضه وشوه او پلورلې يې وې؛ ځکه د دولت مالي حالت خراب وه او د خپلې دفاع لپاره يې پيسو ته ډېره اړتيا درلوده.

## سرف يا بزگر

په فيوډالي نظام کې سرف د بادار په ځمکه کې کښت کاوه، دده مالک ته ددې اجازه وه، چې کله وغواړي سرف د دندې نه لېرې کړي، د مړينې څخه وروسته يې د مالک خوښه وه، چې د کښت کولو حق يې نورو ځامنو ته ورکوي او کنه؟، په فرانسه کې مالک د خپل سرف د پلورلو حق هم درلود، يا به يې د هغه د لږ وخت مزدورۍ پيسې ورکړې او نورو ته به يې سپاره، که سرف به ازادي غوښته؛ نو خپل ټول مال، دولت به يې خپل مالک ته ورکاوه، تر څو ازاد شي. په په روسيه کې به د ځمکې د پلورلو سره سرف هم پلورل کيده، په دې ډول به سرف د ځمکې يوه برخه گڼل کيده. په انگلستان کې په سرف باندې دا پابندي وه، چې په خپل سر نه شي کولای، کلی پريږدي او ولاړ شي، که وبه تښتيده؛ نو د هغه تعقيب به يې کاوه.

دې سرفانو به بې شميره ټيکسونه ورکول، د لويو ځمکوالو ټيکس حکومت ته ورکول، د فصل ټيکس، د کليسا ټيکس، په کرونده کار کول، د بيگار په ډول ځنگلونه پاکول، د نهرونو ويستل، په نهرونو باندې بندونه جوړول د سرفانو مهم کارونه وه، ددې تر څنگ به يې خپل بادار ته ډوډۍ پخوله او هم به يې بير جوړوه، د بادار خوښه به يې وه، چې د کار کولو څومره پيسې ورکوي، په سرف په نهرونو کې کبان نيول، يا به يې په ځنگل کې ښکار کاوه؛ نو ددې به يې هم ټيکس ورکاوه.

که د سرف به کومه مقدمه د بادار عدالت ته ولاړه؛ نو د جرم مطابق به يې فيس ورکاوه، که د سرف بادار به د دښمنانو په لاس کې پريوت؛ نو د خوشې کولو لپاره به يې هم پيسې سرف وکولې، که په مارکيټ يا د کلي په کوم ميله ځای کې به يې کوم څه شی واخيسته؛ نو د هغه به يې هم ټيکس ورکاوه، سرف ته ددې اجازه نه وه، چې د په مارکيټ د خپلو بيرو يا شرابو د پلورلو څخه مخکې خپل بير يا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شراب وپلوري، که د سرف زوی به غوښتل، چې سبق ووايي، يا په کليسا کې خدمت وکړي؛ نو ددې خبرې يا غوښتنې جرمانه به يې ورکوله؛ ځکه په دې صورت کې په کروندو کې کار کوونکي کميدل، کله چې په انګلستان کې د يکشنبې ښوونځي پيل شول؛ نو لويو ځمکوالو له خوا دا وضع شوي وه، چې هغوی به خپلو زامنو ته يوازې لوستل زده کوي، نه ليکل؛ ځکه په دې صورت کې هغه کولای شول، چې بيرون لاړ شي او دنده اجراء کړي.

که چيرته به سرف د خپلې لور يا زوی واده کاوه؛ نو د خپل بادار څخه به يې اجازه اخيسته، د پخوانيو رواجونو مطابق د لومړی شپې حق يې د بادار سره وه، که چيرته به ددې نجلۍ د چا سره نا روا اړيکې وې؛ نو بادار يې حق درلوده، چې ټول سامان باندې يې قبضه وکړي، که سرف به د اولاد د نه درلودلو په وخت کې مړ شو؛ نو په دې صورت کې د سرف په خپله ځمکه باندې بادار قبضه کوله.

د سرفانو (بزګرانو) ژوند د زيات ټيکس او کم امدن په وجه په ډېرو ستونزو کې تيريده، د دوی د اوسيدو لپاره خام کورونه وه، چې په هغه کې به يو يا دوه کوټې وې، دلته به د اتشدان ، تنور او د اوړو د پخولو چارې هم سرته رسيدې، ټوله کورنۍ به يو ځای ويده کيده، پاکۍ ته کومه خاصه پاملرنه نه کيده، په دې وجه به په کوټو کې سخت بد بوی وه.

د سرفانو لباس (کالي) به ډېر ساده وه، سرفان به اکثره نالوستي خلک وه، که کوم سرف به لوستی وه؛ نو، د بادار لخوا به يې توهين کيده او غصه به يې پرې کوله، د مذهب سره د هغوی هيڅ جوړه نه وه؛ مګر په عبادت کولو به مجبور کيدل.

د سرفانو ټولنيز حثيت په ټولنه کې ډېر کم وه، د سرفانو به نه احترام کيده او نه به د عزت کولو وړ ګڼل کيدل، وفادارۍ او فرمانبردارۍ د هغوی شخصيت بيخي د خراب حالات سره مخ کړی وه، د لوړو طبقو د خلکو په نظر به هغوی ډېر جاهل او وحشي مالوميدل، چې هيڅ حقوق به يې نه درلودل او يوازې به يې کارونه سرته رسول، د سياسي او ټولنيز شعور د کم لرلو په اساس هغوی د نظام تابع وه او بغاوت کول يې جرم ګڼل کيده.

په ۱۸۹۷ ز کال کې روسي چيخوف د بزګرانو په اړه وليکل، د غه خلک په کليو کې د رمو په شان ژوند کوي، د هغوی سره ناسته، پاسته منع دي؛ ځکه چې هغوی جاهل، ناپاک، خيرن، بې ايمانه او نيشه يي خلک دي، دوی د يو بل سره په امن کې نه شي اوسيدای، ځکه دوی جګړه مار خلک دي، دوی په هر چا(سرف) باندې شک کوي، د يو بل نه نفرت کوي، د هر چا نه داريږي، بيا هغه دا سوال کوي، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخر دا ولې دوی په دې حال کې دي؟ هغه خپله ددې ځواب ورکوي، لیکي؛ او ځکه، چې دوی سخت محنت او خواري کوي، د ژمي سوړوالی، خراب فصلونه، د خوراک کموالی او د چا نه د مرستې تمې نه کولو، هغوی دې حالت ته راوستي دي.

د سرف په ژوند او روزانه حالاتو کې د تغیر او تبدیل هیڅ څرک نه لیدل کیده، دوی ته به یې ویلن ویل، ددې مطلب وه، چې د بادار غلام د هغه تابعدار، ددې وروسته د ویلن نه د ویلنستې لفظ منځته راغی، چې د بدمعاشۍ په مانا دی، په سرفانو (بزګرانو) کې داسې کوم شخص پیدا نه شو، چې په تاریخ کې نوم ستر یاد شي، هغوی باغیان معرفي کیدل؛ خو همدغه خلک وه، چې خواري یې کوله، د تولید په چارو کې یې کار کاوه، د همدوی په خوارۍ باندې فیوډالیزم ولاړ وه، دا د تاریخ جبر دی، چې سرفانو کوم کلتور منځته راوړ، په هماغه کلتور کې سپک او حقیر شول، کلیسا، باغونه، شعر و ادب، رقص و موسیقي، دا ټول د همدوی په خوارۍ باندې رامنځته شوي وه؛ خو دوی به کې بې برخې وه، په کلیسا کې د هغوی درجه تر ټول ټیټه وه، په شعر او شاعرۍ کې هغوی باندې مسخرې کیدلې او د تاریخ په کتابونو کې د هغوی هیڅ ذکر نه کیده.

خو، داسې هم نه، چې سرف دې د ټول ظلم د بار وړونکی وي، په تاریخ کې د هغوی بغاوتونه هم ثبت شوي دي، چې کله، کله هغوی د فیوډالیزم او د هغه د سختیو په مقابل کې کړي دي، د څوارلسمې زیږدي پیړۍ پورې په لویدیځه اروپا کې هغوی د بغاوتونو یوه سلسله رامنځته کړې وه، د ۱۳۲۳ ز کال څخه تر ۱۳۲۷ ز کال پورې په فلاندرس، په ۱۳۵۸ ز کال کې په پاریس او په ۱۳۸۱ ز کال کې په لویدیځه انګلیسا کې بغاوتونه شوي دي، په هسپانیه او جرمني کې هم بغاوتونه شوي وه، په اتلسمه ز پیړۍ کې په روسیه کې د پګاشوف په مشرۍ باندې سرفانو یو ستر بغاوت وکړ، په داسې حال کې چې دغه بغاوتونه په سختۍ سره وځپل شول؛ خو دا ثابته شوه، چې په سرفانو(بزګرانو) کې د ظلم او بې انصافۍ ضد شعور موجود وه او دا ویل درست نه دي، چې سرفان یوازې جاهل او وحشي خلک وه او د خپلو نظامونو نه مطمن وه.

## امتیازات او مراعات

د فیوډالي نظام یو مهم خصوصیت په ټولنه کې د طبقاتي توپیر ساتل او قوي کول وه، دغه طبقاتي توپیر به په خاصو علامو او نښو سره کیده او دغه علامې او نښې د لوړې طبقې د خلکو سره موجودې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې، مثلاً، د وسلو د اېښودو اجازه يوازې امرينو ته وه، په اس باندې سپرېدل او وسله په لاس جنګ کول هم يوازې د امرينو کار وه، ددې يوازېنۍ وجه دا وه، چې په دغه وخت کې وسله دومره قيمته وه، چې اخيستل يې حتی د امرينو لپاره ستونزمنه وه؛ ځکه نو دا د امرينو يو امتياز شو او بيا قانون هم ومنل شو، سربېره پر دې د توپير د ساتلو لپاره نائټ، امير او ځمکوال لپاره کرنه هم رامنځته شوه، د دوی لپاره په لاسونو باندې کار او خواري کول منع شول، ددې لپاره، چې په ټولنه کې طبقاتي توپير موجود وي.

د ځمکوالو د برترۍ او اقتدار لپاره دا حق هم ځمکوالو ته ورکول شو، چې خپل رعيت ته سزا ورکړي، په دې سزاګانو کې موږ ته ډېر سختې سزاګانې مخې ته راځي، لکه، د بدن د کومې برخې داغول، په دروغو ويلو باندې د ګرمې اوسپنې کېښودل، د جسم د ځينو برخو پرېکول، مسخ کول، د لاس، پښې او پوزې پرېکول، د سترګو ويستل، د ښځو د قاتل ژوندي ښخول، شامل وه، ددې سزاګانو په وجه سرف او عام خلک په بشپړ ډول د خپل بادار د رحم غوښتونکي وه.

سزاګانې ځکه دومره سختې وې، چې مفلس او غريبو سرفانو به د خپل ژوند د بقا لپاره غلا کوله، د جرم د پټولو لپاره يې دروغ هم ويل، په غصه کې د راتلو په وخت کې به يې توهين اميزه کلمات ويل، د دوی د دغو غصو د له منځه وړلو يوازېنۍ لار هغوی ته د سختې سزا ورکول وه، چې د هغې په وجه دوی غلي کړي او نورو ته عبرت شي.

## نائټ Knight:

په فيوډالي ټولنه کې درې طبقې ډېرې مهمې وې، عبادت کوونکي، جنګ کوونکي او کار کوونکي. په دې دريو طبقو کې مهمه طبقه جنګ کوونکې طبقه وه؛ ځکه چې د دوی سره قوت او دولت وه، جنګ د ځمکې د ساتلو لپاره هم کيده او د نورو د ځمکې نيولو لپاره هم کيده؛ ځکه نو په دې وخت کې جنګ يو مسلک وګرځيده، جنګ داسې يو باعزته او لوړ مسلک شو، چې د هغې په ذريعه کيدای شو، چې يو شخص خپل صلاحيت ښکاره کړي، د جګړې فن زده کول په ټولنه کې د احترام وړ وګرځيده، په همدې لحاظ په منځنيو پيړيو کې د نائټونو مختلفې سلسلې منځته راغلې.

د نائټونو مختلفې سلسلې د عزت او وقار سترې نښې وګرځيدې، د نائټونو په مختلفو سلسلو کې د فيوډالو کورنيو هلکانو ځانونه داخلول پيل کړل، زياتره وخت به د کورنيو مشرانو ځوانانو دغه کار ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس اچوه؛ ځکه هغه کولای شول، چې ددغه کار ټول مصارف برداشت کړي، د نائټ روزل به د اوو یا اتو کلونو په عمر کې پیل کیدل، په دې عمر کې به هغه په دربار کې د خدمتګار په حیثت اوسیده، د یوولسو څخه تر څوارلسو کلونو په عمر کې به هغه د ځمکوال سره وه، په دې مرحله کې به هغه ته د جنګ زده کړه ورکول کیده، هغه به په مختلف ډوله لوبو کې ګډون کاوه، کله به چې د نائټ د برابرولو ټول مراحل پای ته ورسیدل؛ نو ځانګړي مراسم به یې سرته رسول. د نائټونو لپاره به ځانګړی لباس وه، په دې لباس کې سپینه چپنه ،یو ډول سور رنګه ټوکر، او تور کوټ وه، دغه درې علامې د کار د پاکوالي، د خدای لپاره د وینې ورکولو او د مرګ لپاره د تیار اوسیدلو نښې وې.

د نائټ د مراسمو د اداکولو نه مخکې به نائټ ټوله شپه په کلیسا کې په عبادت باندې تیروله، بیا به یې مقدس میز باندې په داسې حال کې راوسته، چې پروت به ، او توره به یې په غاړه باندې ورته ایښې وه، دلته پادري به توره لیرې کړه او بیرته به یې ورکړه، وروسته به پادري د هغه (نائټ) بادار ته ورته او ځانګړې خولۍ به یې ورته په سر کوله، هلته به یې دا پوښتنه ورنه کوله، ولې غواړې، چې نائټ شې؟ د هغه د ځواب نه ورسته به یې هغه ته هغه ځانګړی لباس په تن کاوه، وسله به یې ورکوله او د خوشالۍ پروګرام به یې جوړاوه.

کله، چې نائټ کیدل یو امتیاز شو؛ نو د هغه د محدودولو کوښښونه پیل شول، تر څو دغه امتیاز د څو ځانګړو خلکو سره پاتې شي، ددې لپاره په دیارلسمه میلادي پیړۍ کې دا اصول رامنځته شول، چې هغه څوک نائټ جوړیدای شي، چې پلار یې نائټ تیر شوی وي، په دې ډول دا هم میراثي وګرځول شو. ۱۱۸۹ ز کال کې دا قانون رامنځته شو، چې د سرفانو ځامن نه شي کولای، چې نائټ شي، ددې قوانینو څخه دا مالومیږي، چې د امرینو او لویو ځمکوالو نه علاوه، د نورو طبقو خلکو هم کولای شول، چې دې مسلک ته د خپل صلاحیت پواسطه داخل شي.

نائټ د خپل ژوند او دې عمل د لوړ معیار د راوستلو لپاره ډېر زیات ټرونونه کول. هغه به د داسې خبرو او الفاظو څخه، خپل ځان ساته، چې په هغه کې به خوند او تفریح وه، لکه ښه ډول شراب څښل، جنسي اړیکې، لوبې او لباس یې، ارامه بستره، رقص، موسیقي او نور. په هغوی باندې زیات زور د ښځو د عزت ساتلو وه، د هغوی د ساتلو لپاره به یې خپل ځان قرباني کاوه، که چا به د هغه خلاف ورزي وکړه؛ نو په پایله کې به یې، د نائټ سره د هغه شخص عزت او وقار هم پای ته رسیده، نائټ به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مظلومو لپاره هم جګړه کوله او د هغوی د حق ساتنه به يې کوله، د نائټ لپاره د عزت مرګ هغه وه، چې د جنګ په میدان کې دې مړ شوی وي.

نائټونو ته هغه وخت عروج حاصل شو، چې صلیبي جګړې پیل شوې؛ ځکه دا جګړې د هغوی لپاره مذهبي رنګ درلود او جګړه کولو کې ورته ثواب؟ وه؛ مګر ددې نه بغیر به يې هم تل جنګ او جګړې کولې، د جنګ کولو لپاره يې ځانګړي شرایط درلودل، مثلا هغه جګړې، چې د لینټ[1] (lent) موسم کې يې کولې، کومې چې د ایسټر[2] نه مخکې وي، یا به کله، چې فصلونه تیار شول، د رخصتیو په ورځو کې، د هرې هفتې د چهارشنبې څخه تر د دوشنبې د شپې د سهار پورې به دوی جګړه نه کوله، د سولې موده به يې ۸۰ ورځې وه.

که نائټ به په جګړه کې ونیول شو؛ نو تاوان به يې ورکاوه، دلته به هم طبقاتي توپیر مراعت کیده، غریب فوځیان به قتل کیدل؛ ځکه د تاوان ورکولو وس نه درلود، د امرینو او نائټونو څخه به يې تاوان اخیسته، یو نائټ به يې په دې ضمانت باندې پریښوده، چې د تاوان پیسې به راوړي او بیرته به راځي، زیاتره وخت به يې خپله وعده پوره کوله، د بند په وخت به يې د تاوان د ورکولو پورې، د کوربه حثیت درلود، ښکار يې کولای شو، دعوت ته تللی شو؛ مګر د تښتیدلو کوښښ به يې نه کاوه.

کله به چې، جګړه نه وه ؛ نو دوی به په ټورنامنټونو کې برخه اخیسته، هلته به د دوه نائټونو تر منځ د تورې او نیزې جګړه کیده.

د نائټ فوځي زوال هغه وخت پیل شو، کله چې د بارودو استعمال پیل شو؛ ځکه توپک او توپ د لیرې ځای څخه هدف ویشتلای شو، اوس نو جنګ د عزت او وقار وسیله نه وه، د توپک او توپ منځته راتګ د نائټ په تکړه توب او زړورتیا باندې لوی داغ ولګوه؛ ځکه هغه په اس باندې سور سره جګړه کول، یوه زړورتیا ګڼله، د بارودو منځته راتګ د پاچاهانو طاقت هم زیات کړ؛ ځکه ددې وروسته د لویوځمکوالو کلاګاني او کورونه د توپونو سره په مقابله کې وه او نائټ نه شو کولای، چې د توپ دفاع وکړي؛ ځکه نو د لویوځمکوالو پر ځان مطلق العنان او قوي حاکمان رامنځته شول، هغوی نائټونه له منځه یوړل او مرکزي حکومت يې پیاوړی کړ.

[1] د عیسویانو څلویښت ورځنی روژه، چې د ایسټر(د عیسویانو اختر) څخه مخکې يې نیسي.
[2] د عیسویانو اختر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لويو فيوډالانو د اوسېدو ځايونه

په فيوډالي نظام کې، تر ټول مهم اشخاص لوی ځمکوال وه، د هغوی د اوسيدو د ځای څخه د هغوی خصوصيات په ښه ډول مالومیږي، د يو خوا نه هغوی، ډېر پياوړي وه او د سرفانو(بزګر) پوره واک به يې په لاس کې وه، بل خوا به يې هغه سرپرست او ساتونکی هم وه. په منځنيو پيړيو کې، چې لويو ځمکوالو کوم ډول ژوند درلود، د هغې نخشه په دې ډول ده، د لوی ځمکوال د پياوړتيا او دولت تر ټولو ستره نښه د هغه د اوسيدو ځای وه، شاوخوا به يې خندق ويستی وه او محفوظ به وه، دده دې کلا به هغه د نورو خلکو څخه لوړ معرفي کاوه، کله به، چې خلک د هغه سره د ليدو لپاره ورتلل، په لار کې اچول شوي ممانعتونه به يې ليرې کول؛ نو په دې سره به د خپل بادار د قوت او طاقت ښه اندازه ورته مالوميده او کله به چې دغه ټول ممانعتونه پای ته ورسيدل او خپل بادار ته به ورسيد؛ نو د برياليتوب احساس به يې کاه، چې د ستونزو ډکه لار يې وهلې او بريالی شوی دی.

د کلا په برجونو باندې به پيره وه، تلونکو او راتلونکو کسانو باندې به نظر ساتل کيده، د دوی (پيره دارانو) اغيز به په ميلمنو باندې هم وه او هم هغه چا چې به پيره دار ته د ليرې ځای څخه کتل؛ نو داسې احساس به يې کاوه، چې زه يې د نظر لاندې نيولی يم؛ ځکه د هغوی په ذهن کې به يې بادار انځوريده، د کلا ديوالونو د بيرون او دننه خلکو تر منځ د توپير ښکارندوی وه، هغه خلک، چې د ديوالونو څخه به دننه وه، هغوی به د خپل بادار سره ځان ډېر نږدې احساساوه او هغه خلک، چې د ديوال څخه بيرون وه، هغوی به دغه فاصله د خپل بادار او ځان تر منځ ډېره لويه احساسوله.

کلا ته هر چا ددې اجازه نه درلوده، چې داخل شي، يوازې هغه خلک راتلل، چې هغوی ته اجازه ورکول کيده او اجازه به هغه چا ته هم ورکول کيده، چې د ځانګړي اهميت خاوند به وه، د شپې به يې د کلا دروازه قفل کوله او په دې ډول د بيرون خلکو سره به د دننه خلکو اړيکه پرې کيده، په دې کلا کې به د هغو خلکو لپاره ځمکتلي(زيرزميني) وې، چا، چې به د بادار د امر مخالفت کړی وه يا به تورن پيژندل شوی وه، ځمکتلي ددې لپاره وه، چې دوی د لوړتيا څخه ځوړتيا ته غورځيدلي دي.

په کلا کې به د هر چا لپاره ځانګړی ځای وه او په خاصو حدودو کې به يې خپلې دندې سرته رسولې، د کلا ځينو ځايونو ته به د ځمکوال خاص خلک تلل راتلل، ددې حدودو د جوړولو سره، هغه ځايونه، چې د نورو لپاره يې ورتګ منعه وه، دا فکر ورسره پيداکيده، چې هلته څه روان دي؟ دغه رازونو به د خلکو په زړونو کې ويره پيداکوله او د خپل ځان د درجې احساس به هم ورته کيده، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه درجه کومه او چيرته ده؟.

د کلا شاوخوا به د ځمکوال او فيوډالي نظام ځيني خصوصيات بيانول، مثلا، برج چې د پياوړتيا نښه وه، دا د فتحې، لوړوالي او ساتنې نښه وه، چې د برج څخه به ټول کلی کنټروليده، دلته به د ځمکې په اړه خبرې هم کيدې او د کلا دفاع به د همدغه برج پواسطه کيده.

په کلا کې به يو ستر هال موجود وه او ډېر اهميت درلود؛ ځکه دغه هال د ټولنيزو غونډو د جوړيدو ځای وه، دلته به ځمکوال خپل ملګري، ميلمانه او نور خلک د ليدو لپاره رابلل، هلته په کيناستو سره به يې د ځمکې په اړه مهمې پريکړې کولې او همدلته به ځمکوال ته د بيرون احوال هم اوريدل کيده، هال به د عدالت خونه وه، دلته به ځمکوال د مجرمانو د سزاګانو پريکړې هم کولې، همدلته به دعوتونه جوړيدل او د رقص او موسيقی لپاره به يې محفلونه جوړول.

هال يو لوی او پراخه ځای وه، ډېرې زياتې دروازې به يې درلودې؛ تر څو خلک په اسانی سره هال ته داخل شي، د هال د پرخوالي څخه به د ځمکوال شخصيت هم مالوميده او هم دا مالوميده، چې ځمکوال په زړه کې د هر چا لپاره ځای لري، په هال کې به چې خلک راټوليدل؛ نو د هغوی او د بادار تر منځ به يې اړيکې ټينګيدې او په دې وجه به د وفادارۍ جذبات نور هم پياړوي کيدل.

په کلا به نورې خونې هم وې، چې بادار به ترې په شخصي ډول استفاده کوله، کله به يې يوازيتوب نه خوښيده؛ نو خپل وخت به يې د ليدونکو او ملازمينو سره تيراوه.

په کلا کې به تل ميلمنو ته ښه راغلاست ويل کيده؛ ځکه په دې سره د ځمکوال د زړه پراخوالی او لوی شان وشوکت ښکاره کيده، د ميلمنو سره به ډېر په عاجزۍ سره چلند کيده، ددې لپاره، کله چې دوی خپلو ځايونو ته ولاړ شي؛ نو د ځمکوال صفت وکړي او په دې سره د ځمکوال شهرت زيات شي، کوم ميلمانه به، چې د لوړو کورنيو سره تړلي وه، هغوی به د ځمکوال سره يو ځای ډوډۍ خوړه.

بادار به په ټولنيزو او کلتوري کارونو کې ګډون کاوه او دې کارونو ته به يې زياته توجه کوله، د خپل کور او نور اړوندو کسانو ټولې اړتياوې به همده پوره کولې، کله به چې ښکار ته ووت؛ نو خپل ملګري او دوستان به يې هم د ځان سره بوتلل، د تفريح لپاره به يې په نورو باندې جسماني ورزش او د جنګ مقابلې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لويو ځمکوالو به د خپلې کورنۍ شجره ساتله، کومه به چې کوم مشهور شخصيت ته رسيده، ښځو ته په دې شجرو کې هيڅ اهميت نه ورکول کيده، لويو ځمکوالو به يو د بل سره جنګ، جګړې هم کولې، دغې جګړې به زياتره وخت د عزت او وقار لپاره وې؛ ځکه، نو دغه جګړې به اکثره وخت د په اوږدو جګړو باندې اوښتې.

## د ښځو حيثيت

د اروپا په فيوډالي ټولنه کې د ښځو حيثيت ډېر ټيټ او وروسته پاتې وه، ددې وجه دا وه، چې ښځه د ګناهونو او بديو بنسټ ايښودونکې ګڼل کيده، عام فکر دا وه، چې ښځه سړي د ګناه خوا ته بوځي، د يوې نيکې ښځې لپاره دا ضروري وه، چې، خپل لباس، حرکات، سکنات او د خبرو کولو زيات خيال وساتي او داسې کومه خبره ونکړي، چې د هغې په وجه د سړيو جذبات راوپاريږي، د سړيو جذبات به هغه وخت راپورته کيدل، چې د ښځې د جسم کوم بربنډ ځای به يې وليده؛ ځکه نو ښځو ته دا توصيه کيده، چې خپل جسم بايد پټ وساتي، همدا وجه وه، چې په منځنيو پيړيو کې د ښځو عورت بلکل پټ وه ا وداسې لباس به يې اغوسته، چې د جسم کومه برخه يې ترې ښکاره نه شي، ښځو ته ويل کيدل، چې په لوړ غږ بايد خبرې ونکړي، په زوره ونه خاندي او نه د چاسره ټوکې وکړي؛ ځکه که دوی دا کار وکړي؛ نو ددې مطلب دا شو، چې په دوی کې هيڅ شرم، حيا او وفا نشته.

نوی فيشن خپلول يا ميک اپ کول او خپل ځان ښه جوړول، د ښځو لپاره عيب ګڼل کيده؛ ځکه په دې سره، فکر کيده، چې دغه ښځه نورو ته د ګناه دعوت ورکوي، د خاوند ښځې ته دا امر شوی وه، چې د ډوډۍ د خوړلو نه وروسته بايد خپلې بسترې ته ولاړه شي او هلته بايد يا عبادت وکړي يا هم کوم مذهبي کتاب ولولي.

په فيوډاله کورنۍ کې دا د ښځو ذمه واري وه، چې ماشومان وزيږوي، د هغوی پالنه وکړي او د هغه نه بغير د کور په کارونو کې مصرفه شي، ډوډۍ پخه کړي او کالي ووينځي، مستې، پنير او بير تيار کړي، که چيرته به يې خاوند په جګړه کې اسير شو؛ نو دا يې د ښځې ذمه واري وه، چې د تاوان لپاره يې پيسې جمع کړي، که خاوند به يې بې وارثه مړ شو؛ نو ښځه به يې د ميراث وړونکې وه؛ خو دې ښځو به ژر بل واده کاوه؛ ځکه، چې د مال او جائداد ساتنه د سړي څخه بل چا نه شوه کولای، پاچا به خپله د کونډې ښځې لپاره د خاوند په پيداکولو کې ليوالتيا ښودله، ددې لپاره چې هغې ته داسې خاوند پيداکړي، چې ډېر ښه فوځې خدمت وکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځو لپاره دا ډېره ضروري وه، چې په عزت او پرده کې پاتې شي او د ناوړه جنسي اړیکو څخه ځان وساتي، سړی د جنسي اړیکو په نیولو کې ازاد وه او کولای یې شول، چې د څو انجونو سره ناوړه جنسي اړیکې ولري، په دې وجه به یې د ناجائزه اولاد شمیر ډېر زیات وه، د انجونو داسې روزنه کیده، چې په راتلونکي کې یوه ښه میرمن ترې جوړه شي، که اړتیا به لیدل کیده؛ نو دوی ته به څه ناڅه لیکل او لوستل هم ورزده کیدل.

## هلکان او زده کړې

د لویو ځمکوالو ځامنو به د تعلیم د لاسته راوړلو سره کومه لیوالتیا نه لرله او زیاتره به بې تعلیمه وه؛ ځکه، په منځنیو پیړیو کې پوهو او باسواده خلکو ته په ټیټ نظر کتل کیدل[1] او دا ددې لپاره، چې د هغه(د ځمکوال د زوی) د حساب او کتاب لپاره ملازم موجود وه؛ نو ځکه هغه اړتیا نه درلوده، چې علم لاسته راوړي، ځکه چې هر څه ملازم سرته رسول، څرنګه چې په ټولنه هغه شخص ټولنیز حیثیت درلود، د چا سره، چې ځمکه او دولت وه؛ ځکه، نو ځوانو هلکانو د جګړې د مهارتونو په زده کولو کې زیاته لیوالتیا درلوده، د وسلو استعمال د هغه لپاره د علم د لاسته راوړلو نه زیات اهمیت درلود، علم او پوهې ته په سپکه سترګه کتل کیدل؛ ځکه هغوی فکر کاوه، چې علم او پوهه خلک د سستی او بزدلی په لور بوځي.

د فیوډالي کورنۍ د هلکانو لپاره دا ډېره اړینه وه، چې هغوی نظم، ادب، اداب او د خپلې طبقې د خصوصیاتو څخه باخبره وي، تر څو په دې سره، هغه خپل شخصیت په ټولنه کې په ښه ډول سره وښيي او د ویاړ سبب یې شي.

## د فیوډالي نظام خصوصیات

ددې نظام مشر یا سردار پاچا وه، پاچا به خپل روحاني طاقت نیغ په نیغه د خدای څخه اخیسته، ددې طاقت په درلودلو سره به، هغه د نورو ډېرو لویو ځمکوالو څخه برتر پیژندل کیده، کلیسا به هغه ته الهي قوت او فیوډالانو به قانوني او فوځي طاقت ورکاوه، پاچا به د نورو فیوډالانو څخه لوړ وه؛ ځکه، نو د پاچا او نورو فیوډالانو تر منځ به د سیاسي برترۍ لپاره جګړې کیدې، فیوډالانو ته د یو پاچاه اړتیا وه؛ ځکه فیوډالان به یو د بل سره په جګړو اخته وه او یو د بل سره به یې زیاته کینه او حسد کاوه، پاچا به د

---

[1] ستاسو باید دلته یوې خبرې ته پام وي، چې دغه نظر یوازې په اروپا کې موجود وه، په منځنیو پیړیو په ختیځ کې لوړ اسلامي تمدن موجوده وه. (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان لپاره دا خوښوله، چې د هغه په وفادارۍ دې باور وشي او فيوډالان دې د هغه په ازادۍ کې لاس وهنه نه کوي؛ ځکه، نو هغه د سکو په جوړولو کې ازاد وه، د ټرونو په لاسليک کولو کې هم ازاد وه او که به اړتيا پيښه شوه؛ نو جګړه به يې هم کوله.

فيوډاليزم هغه وخت کمزوری شو، کله چې په څوارلسمه زيږدي پيړۍ کې قحطي، طاعون او نورو افتونو په وجه په ملک کې د خلکو نفوس کم شو او په ځمکو کې کار کوونکي په ډېر مشکل سره پيداکيدل، په دې وخت کې ستر، ستر جنګونه هم وشول، سل کلن جنګ، د ګلابو جګړه[1]، په فرانسه، جرمني او ايټاليا کې جګړې وشوې، دې جګړو په اقتصادي او فوځي توګه فيوډالان بيخي کمزوري کړل.

د فيوډالانو کمزروي، هغه وخت هم پيل شوه، چې ځمکي يې په ټيکه باندې ورکول پيل کړل، ټيکه دارانو به د ځمکو ساتنه هم کوله او د ګټې د لاسته راوړلو لپاره يې په ځمکو کې کار هم کاوه، په دې ډول هغوی د پيسو جمع کول پيل کړل، د دوی څخه سوداګره طبقه رامنځته شوه، دوی به ځمکي اخيستې او توليد به يې په ښارونو کې خرڅوه، په دې سره ښارونه بيا د اهميت وړ وګرځيدل.

په اروپا کې د روم د زوال نه وروسته د ښارونو زوال پيل شو، فيوډالانو ښارونه پريښودل او کليو ته ولاړل، په دې د ښارونو ابادي کمه شوه، په يوولسمه پيړۍ کې يوولس فيصده خلک په ښارونو کې اوسيدل، په دولسمه پيړۍ د لندن په ښار کې شل زره خلک اوسيدل، روم، چې د رومي امپراتورۍ پلازمينه وه، په کنډواله باندې بدل شوی وه او د ګندګۍ لپاره ډېر مشهور وه، ټول ښارونه ګنده شوي وه، سوداګرو به خپل سامان په سړکونو او کوڅو کې د پلورولو لپاره ايښوده.

په ښار کې د لاسي کارونو او هنرمندانو اتحاديې جوړې شوې وې، دوی به خپل کارونه کنترولول، په څوارلسمه او پنځلسمه ميلادي پيړۍ کې دغه اتحاديې په سياسي قوتونو باندې بدلې شوې، دا د هغوی لپاره په ګټه وه، چې په حالاتو کې کومه تبديلي رامنځته نه شي او د صعنت او هنر تر منځ کومه مقابله هم ونه شي؛ ځکه په نويو اختراعاتو سره د هغوی په امدن باندې يې تاثير درلوده، هنرمندانو يو په جرمني کې يو شخص ددې لپاره وواژه، چې هغه د اوبدلو کارګاه جوړه کړې وه.

په دې دوره کې په ټولنه باندې د مذهب پوره واک وه، د کليسا اهميت ځکه زيات وه، چې اروپا يې عيسايي کړې وه، ددې مذهبي احترام نښه کليسا وه، چې لويو، لويو پاچاهانو او فيوډالانو جوړې کړې

[1] War of Roses

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې، ۱۰۵۰ نه تر ۱۳۵۰ کلونو پورې په فرانسه کې ۸۰ لويي کليساوې او ۵۰۰ کوچنۍ کليساوې جوړې شوې وې، په دې هغه کوچنۍ کليساوې شاملې نه دي، چې شمير يې زرګونو ته رسيده، حاکمې طبقې به د کليسا سره مرسته کوله، تحفې او ځمکې به يې ورکولې؛ ځکه، نو کليسا ډېره قوي ادره وه او کليسا به د حکومت ملاتړ هم کاوه.

په ديارلسمه پيړۍ کې د انګيزسيون[1] محکمه رامنځته شوه، هغه کسانو به، چې د کليسا څخه بغاوت کاوه، يا به يې د کليسا د زده کړو په غلط ډول تفسير کاوه، دغسې کسان به د تشدد، سزا او ډار په واسطه غلي کيدل او ختمول به يې، دې اداري (انګيزسيون) به د نويو خيالاتو او افکارو سره دښمنی کوله او په هغوی باندې به يې بنديز لګوه، دغه حالت د فيوډالانو لپاره په حقه وه؛ ځکه د نويو نظرياتو په نه موجوديت کې به د هغوی سره چا مقابله نه شوه کولای.

د منځنيو پيړيو فيوډاله ټولنه اوس هم د ځينو مؤرخينو لپاره زړه راښکونکې او رومانوي حيثيت لري، د ډېرې زياتې مودې لپاره دغه نظام په قوت سره حکومت وکړ او داسې نظام يې رامنځته کړی وه، چې په ټولنه کې طبقاتي سيستم موجود وه، د يو شخص لپاره د يوې طبقې نه بلې طبقې ته تګ ډېر ستونزمن وه، پيدائښت او کورنۍ په ټولنه د ټولنيز حيثيت تعين کاوه؛ ځکه، نو ددغه حالت څخه به مطمن وه، په دې وخت طبقاتي جګړې دومره نه وې، خلک د خپل ژوند نه مطمن وه، د پرمختګ خواهشات نه وه؛ ځکه، نو ټولنه په يو ځای ولاړه او ارامه وه.

په کليو کې اوسيدونکو خلکو طبعي ژوند درلود، د ځمکې سره يې اړيکې درلودې؛ ځکه، نو ځان يې د طبيعت يو برخه ګڼله، مذهب هغوی ته دا پوهه ورکړې وه، چې دغه نړۍ فاني ده، دولت او شهرت تلونکی او راتلونکی وه؛ ځکه، نو د هغوی لپاره کوښښ کول بې ځايه وه.

مګر، د فيوډاليزم دغه نظام په خپل حال پاتې نشو، تغيراتو او بدلونونو ددې نظام په قوي ديوالونو کې درزونه رامنځته کړل، د خيټې څخه يې يو بل نظام وزيږيد او بالاخر دې نظام ته يې د پای ټکی کيښود.

## حوالې:

---

[1] inquisition

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیوډالیزم (جاګیرداري)

۱- ویل ډورانټ، ۵۵۲، ۵۳، ۵۸، ۶۰ مخونه.

۲- ایف، ایل، ګان شوپ، فیوډالیزم، ۴۷مخ.

۳- جان کرچ لي، فیوډالیزم، ۲۵، ۲۷ مخونه،

۴- سي بروک، Europe in the Central ages

۵- مارک بلوخ، ۳۲۰، ۲۱، ۸ مخونه.

۶- Georges Duby, A history of Private Life

۷- مبارک علي، تاریخ او انقلاب.

۸- هربنس مکهیا، Perspective of Medieval History, vikas Delhi 1993

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فيوډاليزم زوال

تاريخي عمل په يو ځای کې نه ودريږي، ژوند کې تغيرات راځي، ژوند د بدلونونو غوښتونکی دی، اداري او روايتونه خپل ځان په دې حالاتو کې اچوي؛ مګر، يو داسې مرحله راشي، چې د هغوی پاتې کيدل نور پای ته رسيږي، فيوډاليزم د اتلسمې ميلادي پيړی پورې پاتې شو؛ خو، کله چې صعنتي او تکنالوژيکي کشفيات وشول او تغيرات په کې راغلل، په فيوډاليزم کې هم درزونه رامنځته شول.

په اروپا کې فيوډاليزم په دريو طريقو سره زوال وموند، يو د لاندې طبقې څخه پورته خواته ټولنيز تغيرات او د هغې په پايله کې اصلاحات رامنځته کيدل، دويم د انقلابي اقداماتو په ذريعه او دريم ډول د حاکمې طبقې لخوا د پورته خوانه اصلاحات رامنځته کيدل، چې په پايله کې نظام بدليږي.

د ټولنې د تبديلی دوه مهمې ذريعې وي، يو د اصلاحاتو په واسطه د ټولنې نظام کې تغيرات راځي، که پخوانی نظام د اصلاحاتو سره مخالفت کوي؛ نو د تشدد او انقلاب په ذريعه يې پای ته رسوي، د اصلاحاتو په ذريعه پرمختګ په ارتقايي ډول وي؛ مګر انقلاب په چټکی سره تغيرات منځته راوړي او پخوانی نظام د بيخه وباسي.

د بحث وړ خبره داده، چې ايا د انقلاب په ذريعه انقلاب ښه دی؟ ايا د اصلاحاتو په ذريعه ټولنه کې تغيرات راتلای شي او د خپل تير سره خو اړيکې په چټک ډول نه شلوي؟، انقلاب په ډير چټک ډول د اوس او تير وخت سره اړيکې شلوي، د انقلاب نه وروسته که په فوري ډول حکومت جوړ نه شي؛ نو په ټولنه کې ګډوډی رامنځته کيږي،کله چې، د اصلاحاتو ټولې لارې په بندې شي، په دې وخت کې انقلاب وروستی لار ده.

د اروپايي فيوډاليزم زوال موږ، په انګلستان، فرانسه او جرمني کې تر مطالعې لاندې نيسو؛ ځکه، په دې دريواړو هيوادو کې، د زوال لارې او حالات بدل وه.

## انګلستان

په انګلستان فيوډاليزم ډيرې ژورې ريښې درلودې، د فيوډالانو او پاچاهان ترمنځ به تل شخړې موجودې وې، پاچا به کوښښ کاوه، چې دفيوډالانو واک کم کړي او خپل مطلق العنان واک رامنځته کړي؛ خو، فيوډالانو کوښښ کاوه، چې خپله ازادي(خودمختاري) وساتي، ۱۲۱۵ ز کال کې د انګلستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا جان او فیوډالانو تر منځ د مګنا کارټه[1] قانون لاسلیک شو، په دې کې د پاچا او فیوډالانو اختیارات مالوم شوي وه؛ مګر کله، چې دستورټ د کورنۍ لومړي چارلس او پارلمان تر منځ کورنۍ جګړه (۱۶۴۲-۱۶۴۹ز) وشوه، دې جګړې د پاچا اختیارات او قوت کمزوری کړ او فیوډالانو په پارلمان کې زیات حاکمیت تر لاسه کړ، ددې وروسته دا سوال ډېر مهم شو، چې د حکومت کولو واک د چا سره دی، پاچا که پارلمان سره؟.

د ۱۶۸۸ ز کال انقلاب او د ۱۶۸۹ ز کال د حقوقو لائحې د پاچا واکونه نور هم راکم کړل، په داسې حال کې، چې په دې سره د فیوډالانو حیثیت قوي شو؛ مګر، نورې طبقې په دې پوه شوې، چې کولای شي، د طاقت له خپل حقوق تر لاسه کړي.

په اوولسمه پیړۍ کې په انګلستان کې دوه مهم تغیرات منځته راغلل،یو زراعتي انقلاب وه، چې په دې سره فیوډالان نور هم قوي شول، دولت او سیاسي واک یې تر لاسه کړ، دویم، ددې په پای کې صنعتي انقلاب رامنځته شو.

د انګلستان د فیوډالي نظام یو خاصیت دا وه، چې ځمکه په بشپړ ډول نه استعمالیده، د یو فیوډال سره به ځمکه په یو ځای کې نه، بلکه په مختلفو ځایونو کې به وه؛ ځکه، نو په دې ځمکو کې به کرونده ډېره کمه کیده، بل مشکل دا وه، چې د یو ځای ځخه بل ځای ته په تګ باندې به ، د بزګر زیات وخت مصرفیده، ځمکه به یې د ځینو فصلونو د کرلو ځخه پرته پرینبوده، څرنګه، چې فیوډالانو په خپله ټوله ځمکه باندې کرونده نه کوله؛ نو، ځکه به یې اجاره دار ته ورکوله، چې د هغوی ځخه کوچني یومین[2] منځته راغلل، څرنګه چې دغه طبقه ځمکوال نه وه؛ نو، ځکه یې په ځمکو کې کرل کول او په خپل امدن کې زیاتوالی راووست، په انګلستان کې دغه طبقه د یوې مهمې او ازادې طبقې په شکل منځته راغله.

په اوولسمه پیړۍ کې داسې ځیرنې پیل شوې، چې څنګه کولای شو، چې په زراعت کې پرمختګ رامنځته شي؟ په ۱۶۴۵ ز کال کې روبرټ ویسټرن داسې پایله لاسته راوړه، که داسې شیان ورکرل شي، چې ریښې ولري، لکه شلغم او نور؛ نو په دې سره د ځمکې زرخیزي پای ته نه رسیږي، یوه بله طریقه هم وړاندې شوې وه.

---
[1] Magna Carta
[2] Yeoman(کوچنی زمیندار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



زراعتي انقلاب د کرلو پخوانی طریقې بدلې کړې، د ځمکې اهمیت د پخوا په پرتله نور هم زیات شو؛ ځکه د پارلمان د غړي کیدو لپاره د ځمکې د ملکیت درلودل ډېر مهم وه، د قضایي قوې د غړي کیدو لپاره هم د سل پونډو درلودل هم مهم وه، د چا سره چې دولت وه؛ نو هغوی د سیاسي او ټولنیز قوت د لاسته راوړلو لپاره د ځمکو اخیستل پیل کړل، د ختیځ هند کمپنی مشر هم ځمکه واخیسته، تر څو ددې لارې سیاست ته ولاړ شي، د کوچنیو ځمکوالو نه به ځمکه اخیسته، په دې کار سره به د هغوی په زړونو کې غم او غصه پیداکیده، اوس د سرفانو(بزګرانو) لپاره په کلیو کې بیکاره ځایونه نه وه پاتې، د بزګرانو زیاتره بې روزګار شول.

ددې تغیراتو په پایله کې د فیوډالانو سره دولت زیات شو؛ نو هغوی په کلیو کې ښکلي ځایونه جوړ کړل، د دولت په زیاتیدو سره د هغوی د ښکلا حس هم راویښ شو، هغوی اوس میزونه او چوکی د فرانسي نه د ځان لپاره راغوښتي، د ایټالوي، فرانسوي او لاتیني لیکوالو کتابونه یې په خپلو خصوصي کتابتونونو کې ځای په ځای کول، خپلې حویلی یې ښایسته کولې، هغوی د فن، علم او ادب مشران وګرځیدل، د خپلو کلیو څخه لاړل او ښارونو کې میشت شول؛ بلکه ددې نه هم زیات، هغوی د اروپا د سیاحت او ګرځیدلو شوق او حرص پیداکړ. ۱۷۸۵ ز کال کې څلویښت زره انګلیسان په اروپا کې وګرځیدل، په خپلو کلیوالو کورنو کې یې دعوتونه پیل کړل، په دې کورنو کې د ښارونو خلک ننوتل، دې کار د کلي او ښار کلتور سره نږدې کړ، د علم او ادب سره د هغوی د مینې مالومات د هغوی د هغه تقریرو او لیکنو څخه کیږي، چې هغوی به په کې د هومر، ورجل، هوریس او ملټن اشعار استعمالول، لیکل او لوستل به یې، د هغوی له وجې وه، چې شکسپیر د نړۍ ستر شاعر شو.

ددې کلتوري کارونو تر څنګ، ښکار کول، منډه وهل او قمار وهل هم شامل وه، یو بزګر ته په ښکار کولو باندې بندیز وه، ددې لپار په ښکار کولو باندې قوانین جوړ شول، ددې قوانینو د ماتیدو په صورت کې به د هیواد نه د شړولو او نورې ډول، ډول سزاګانې ورکول کیدې.

په لومړیو د فیوډالانو سره د علم او تعلیم دومره خیال نه وه، که د هغوی اولادونو به درس ویلی؛ نو د نورو خلکو د اولادنو سره یو ځای به یې ویلی؛ مګر، اوس د هغوی اولادونه د ښوونځي د تګ پر ځای په کور کې زده کړه کوله او نوی رواج رامنځته شو، په وروسته کې د هغوی لپاره جلا ښوونځي او پوهنتونونه رامنځته شول، پارلمان ته د تګ څخه مخکې به یې دوه کاله کالج لوسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قانون مطابق د جائداد حق د مشر ځوی سره وه؛ نو ، ځکه د کوچنیو ماشومانو لپاره فوځي خدمت، سیاست او د دیپلوماسی په ځایونو کې د کار کولو اجازه وه، د هغوی څخه ځینو، صنعت او فنونو ته هم لاس ور اوږدوه.

د دولت زیاتوالي د هغوی په ژوند باندې هم اغیزه درلوده، ملګرو ته قیمتي تحفې ورکول او انجونو ته قیمتي جهیز ورکول رواج شول، د دوی ددې کار په وجه د سوداګرو سره په اقتصادي لحاظ زیاته مرسته وشوه، دوی به د فیوډالانو اړتیاوې پوره کولې، په همدې دولت لاسته راوړلو سره پای دوی فیوډالانو ته ماتې ورکړه.

زراعتي انقلاب په بزګرانو باندې منفي اغیزې درلودې، په پخواني نظام کې بې روزګاري نه وه، ټولې کورنۍ به په کرونده کې کار کاوه؛ خو، اوس په نوي نظام کې ماشین د ډیرو کارونو ځای ونیوه، ددې په وجه په بزګرانو کې زیات خلک بې کاره شول، دوی د دندې د پیداکولو لپاره ښارونو ته مخه کړه، هلته د صنعت د پراختیا په وجه نوې، نوې فابریکې جوړې شوې وې، څرنګه چې صنعت کار ته په کم مزد باندې د مزدور اړتیا وه؛ ځکه، نو هغوی وزګارو بزګرانو ته په ښارونو کې ښه راغلاست ووایه، په کلیو د خلکو په کمیدو سره کلي شاړ شول او د ښارونو عروج پیل شو.

په صنعتي پرمختګ کې یوازې بورژوا طبقې ونډه نه درلوه، بلکه لویو ځمکوالو هم ددې څخه ګټه واخیسته، ځکه، د هغو ځمکوالو په ځمکو کې، چې کانونه وه، هغوی د قولې په وجه ډېره ګټه وکړه، لیکن، د ټوکرو(نساجي) په صنعت کې متوسطې طبقې زیاته ونډه درلوده، دې دواړو طبقو د خپلو ګټو د ساتلو لپاره د سیاسي واک د نیولو زیات کوښښ کاوه، ددې په پایله کې د پارلماني اصلاحات تحریکونه رامنځته شول، پیل په ۱۸۳۲ ز کال کې وشو، ددې کال د اصلاحاتو په پایله د ځمکې او دولت حیثیت مساوي شو.

دې تغیراتو په انګلستان کې فیوډالي نظام ته د پای ټکی کیښود، دې حالاتو فیوډالانو دا احساس ورکړ، چې د خپلې بقا لپاره باید بورژوا طبقې ته ځینې امتیازات ورکړي، په دې سره، ورو،ورو هغوی د خپل نظام د امتیازاتو څخه لاس په سر شول او خپل ځان یې د حالاتو سره په یو قالب کې ځای په ځای کړ، په دې ډول په انګلستان کې د انقلاب مخه ونیول شوه، خپله بورژوا طبقې هم انقلاب نه غوښت او د اصلاحاتو په ذریعه یې د تغیر راوستو ته ترجیح ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فرانسه

په فرانسه کې د انګلستان برعکس د فيوډاليزم پای د اصلاحاتو په ذريعه ونشو، بلکه، د انقلاب په واسطه يې فيوډاليزم له منځه يووړ، ددې يوه وجه د دواړو هيوادونو د فيوډالي نظامونو په خصوصياتو کې وه، په انګلستان کې فيوډالانو په سياست او حکومت کې برخه اخيسته، ليکن په فرانسه کې حکومت کول د رياست خلکو ته پرېښودل شوي وه، ددې نه بغير دوی په بورژوا طبقه کې واده نه کاوه او نه به يې خپل کوچني ماشومان سوداګری ته پرېښوده، د انګلستان فيوډالان په کليو کې اوسيدل او د خپل ځمکو د حالاتو څخه به خبريدل، په فرانسه کې فيوډالان په ښارونو کې اوسيدل؛ ځکه، نو د ځمکو په اړه به کم خبريدل، په دې وجه د انګلستان د فيوډالانو فکر او پوه د فرانسي د لويو ځمکوالو په اندازه زياته پراخه وه، هغوی د پارلمان د کارونو نه خبريدل او پوره ونډه به يې په کې اخيسته او د سياست له لارې به يې خپل ګټې ساتلې، دوی زراعتي انقلاب کې هم زياته ونډه درلوده، انګليسي فيوډالانو به کرونده ساتله او د بزګرانو سره به يې اړيکې هم ساتلې.

فرانسوي فيوډالان په خپل طبقاتي غرور کې ډوب وه، هغوی نورو طبقو سره کومه اړيکه نه ساتله؛ ځکه، نو هغوی ته ددې مالومات نه کيده، چې خلک څه فکر لري او د هغوی غوښتنې څه دي؟.

په فرانسه کې فيوډالان په دوه طبقو باندې ويشل شوي وه، يو د تورې خاوندې وه، دوی د لومړنيو جرمني فاتحينو پورې ځان تړه، هغوی د خپل زور په واسطه ځمکې نيولې وې، دويمه طبقه هغه وه، چې دغه امتياز يې د خپلو دندو په ذريعه تر لاسه کړی وه؛ ځکه، نو د هغوی درجه د تورې د خاوندانو څخه کمه وه.

په فرانسه کې لوی ځمکوال په دربار کې اوسيدل، دا د څلورم لويي د پاليسی په وجه وشول؛ ځکه، قوي فيوډالانو هر وخت د پاچا اختيارات او واک ته تاوان رسولای شو او لکه، چې به موقع په لاس ورغله؛ نو د پاچا په ضد به يې بغاوت هم کاوه؛ ځکه، نو د سازش او د هغوی د قوت د ماتولو لپاره يې هغوی د وارسا ماڼی ته راوغوښتل او دربار کې په اوسيدلو باندې يې مجبور کړل، ددې نه يې دوه ګټې وکړې، يو خو دوی د پاچا د نظر لاندې شول، دويم د هغوی مصارف دومره زيات شول، چې امدن يې نه شو کولای، چې پوره يې کړي، په دې وجه د هغوی مالي حالت د تل لپاره ډير خراب شو او قرضونو کې ډوب شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دربار کې د اوسيدو په وجه د هغوی ازادي او خودمختاري پای ته ورسيده او د دربار ماحول په هغوی کې خوشالي او چاپلوسي پيدا کړه، د خپلو ځمکو نه ليرې شول او په دې ډول د هغوی اړيکې د ځمکې د او بزګر سره وشليدې، هغوی د کليو پر ځای په ښار کې د عياشی په ژوند باندې اخته شول.

همدغه وجه وه، چې هغوی د خپل جائداد په اړه هيڅ مالومات نه درلودل، دا د فيوډالانو لپاره د بې عزتی خبره وه، چې څوک دې د هغوی سره د زراعت، کرلو يا فصلونو په اړه خبرې وکړي؛ ځکه، دا طبقه په ثقافتي ماحول کې اوسيده، دا د هغوی کار نه وه، بلکه د هغوی د ملازمانو دنده وه، يو ځل لويي موسيو دلو ته وويل، چې ډير زيات قرضدار يې؛ نو هغه ورته وويل، چې زه به د خپلو کارکوونکو نه په دې اړه پوښتنه وکړم.

د زياتو مصارفو په وجه ټول فيوډالان په قرضونو کې ډوب وه، په ژوند کې شان و شوکت ښودل او زيات مصارف کول د د امرينو عادت ګرځيدلی وه، ډيوک لازون په شيږرويشت کلنی کې يو لک فرانکه پيسې مصرف کړې او شل لکه فرانکه قرضدار شو، يو بل امير پرنس کونتي وه، د هغه شپږ لکه امدن وه، مګر تل به قرضدار وه، د ډيوک شوای د څوارلس ميليونو جائداد وه؛ خو دی هم لس ميليونه قرضدار وه، ډيوک اورلين په څلور اويا ميليونو قرض کې راګير شوی وه.

په دې وخت هر هغه فيوډال به، چې قرضدار وه؛ نو فخر به يې پرې کاوه؛ ځکه د قرض پيسو به د هغه د مصارفو اندازه مالوموله او څوک به، چې څومره قرضدار وه، ددې مطلب دا وه، چې دی زياتې پيسې مصرفوي، دا به د يو امير لپاره ډيره د وياړ خبره وه.

کله، چې لويو، لويو اميرانو په ځمکو کې دلچسپي نه درلوده؛ نو دې پايله شوه، چې دوی په خپلو لويو ځمکو کې کرونده نه کوله، هغه کوچني ځمکوال به چې په کليو کې اوسيدل؛ نو هغوی به هم کوښښ کاوه، چې هغوی هم دربار ته لاره پيداکړي؛ ځکه، نو هغوی په خپلو ځمکو کې په کروندې باندې کمه توجه کوله، پايله دا شوه، چې دغه امرين به کله، کله ديوالي کيدل او د پاچا نه به يې غوښتنه کوله، چې د هغوی سره مرسته وکړي، د هغوی مرسته به د ملي خزانې(بانک) نه کيده؛ ځکه، نو هغه پيسې، چې بايد په حکومت کولو او عوامو باندې بايد مصرف شوې وای، د امرينو جيبونو ته تلې.

په وارسا مانی کې ددې امرينو ژوند په عياشی کې تيريده، د ورځې دعوتونه، محفلونه، لوبې، تفريح او د دربار معاملې د هغوی د ژوند معمول ګرځيدلی وه، څرنګه چې وارسار شاهي ښار وه؛ ځکه، نو دا د نور هيواد سره په اړيکه کې نه وه، داسې جزيره ګرځيدلې وه، لکه بند ماحول کې چې ژوند کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه (فيوډالانو) په بيله نړۍ کې ژوند کاوه، هغوی ته دا احساس نه کيده، چې هيواد د کومو حالاتو نه تيريږي او خلک د کومو ستونزو سره مخ دي، دې حالاتو ته په کتو سره يو لوی فيوډال په ۱۷۵۲ ز کال کې داسې ليکلي وه:

د لويو امرينو نسل دې ختم شي، دا هغه خلک دي، چې جائداد، دندې، واکونه او شان وشوکت د کومې خوارۍ نه بغير لاسته ورغلي دي ، دوی پرته د کوم زحمت او کوښښ څخه لوی خلک شوي دي، دا خلک نا اهله دي، زما ددې خلکو په اړه دا نظر دی، چې د سپيو دې د هغو وخت پورې ساتنه وشي، چې تر څو پورې په کې بدل نه وي راپيدا شوي، ددې وروسته دې د هغوی نسل ختم شي.

د امرينو ددې عياش ژوند په مقابل کې د بزګرانو او کروندګرو ژوند ډير وروسته پاتې وه، دوی د عبرت نمونه ګرځيدلي وه، کروندګر د مزدور په شان ژوند کاوه، چې فيوډالانو ته محتاج وه، بزګرانو ته اوس خالي ميدانونه او ځايونه نه وه، ځنګلونه يې بند کړي وه؛ ځکه، د ښکار حق يوازې د فيوډالانو سره وه.

فيوډالان د ټيکسونو نه معاف وه؛ ځکه، هغوی ټيکس ورکول د ځان بې عزتي ګڼله او ټول ټيکس به بزګرانو ورکوه، ددې ټيکسونو په ورکولو سره د بزګر سره يوازې شل فيصده امدن پاتې کيده، د بيګار په ډول به يې سړکونه او پلونه هم جوړول.

د قيمتۍ په وجه به ټيکس زياتيده، پخواني ټيکسونه، کوم به چې ليرې کړای شوي وه، هغه به يې بيرته لګول، په دې حالاتو سره به په خلکو کې د فيوډال نظام پر ضد جذبې راپاريدې، ددې خبرې پته په هغه وخت کې د يو چاپ شوي کتاب نه ښه مالوميدای شي، د هغه کتاب ليکوال، بوميسرۍ وه او د کتاب نوم (د فيوډالي حقوقو خرابوالی) وه، په دې کتاب کې د هغوی ناانصافيو په اړه ليکل شوي وه، چې په هغه نظام کې موجودې وې؛ ځکه، نو فيوډالانو د کتاب سره زيات مخالفت وکړ.

د ۱۷۸۹ ز کال د فرانسې د انقلاب مرکز د پاريس ښار وه، په ۱۴ جولايي خلکو مظاهره وکړه او د باستيل کلا(زندان) يې ړنګ کړ او په ښار باندې يې خپله ولکه ټينګه کړه، ددې خبرونو په خبريدو سره په کليو کې بزګرانو د فيوډالانو پر ضد وسله وال پاڅون وکړ، هغوی د اوسيدو په هغو ځايونو باندې حملې وکړې، چې شاتو به يې ورته ويل او ټول هغه کاغذونه يې وسوزول، چې د هغوی (بزګرانو) پر ضد وه او هغه کاغذونه يې هم وسوزول، چې په دوی باندې پرې قرضونه ليکل شوي وه، په وخت ځينې فيوډالان ووژل شول، ددې پاڅون په پايله کې، د کليو څخه د فيوډاليزم د له منځه وړولو کار پيل شو، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې وخت ملي اسمبلۍ غونډه وکړه، د اګست په څلورمه ۱۷۸۹ ز کال کې ملي اسمبلۍ د فیوډالیزم پای اعلان کړ، ټول فیوډالي ټیکسونه، قرضونه، بیګار او د شخصي خدمت حقونه یې ختم کړل، د ملي اسمبلۍ دغه اقدامات قانوني وه، په داسې حال کې، چې بزګرانو په خپله په عملي ډول دغه ناانصافیو ته د پای ټکی ایښی وه.

په هر صورت، ددې عمل په پایله کې، په فرانسه کې سترې ځمکوالی پای ته ورسیدې، د امرینو او د کلیسا ځمکې یې ظبط کړې او ویې پلورلې او صنعت کارانو او بزګرانو واخیستلې، په دې ډول په فرانسه کې فیوډالیزم پای ته ورسید، ځمکه په کوچنیو، کوچنیو برخو باندې وویشل شوې او بیا د قوت د لاسته راوړلو ذریعه ونه ګرځیدله.

کله، چې ناپیلیون بوناپارت واک ته ورسید، تر دغه وخت پورې د ځمکې زیاته برخه د حکومت سره وه، اپیلیون د پاچا کیدو نه وروسته ځمکې، په خپلو پلویانو باندې وویشلې او د امرینو یوه بله طبقه یې رامنځته کړه، دا امرین د منځنی طبقې پورې تړلي وه؛ مګر، هغوی هم پخوانی روایت وساته، خپلې ځمکې یې په ټیکه باندې ورکړې او خپله دربار ته ولاړل، بزګرانو ته دا سهولت شو، چې هغوی به د پخوا په شان فیوډالانو ته ټیکس نه ورکاوه.

کله، چې په فرانسه کې په ۱۸۱۵ ز کال کې، یو ځل بیا پاچاهي پیل شوه؛ نو، په دغه وخت کې، زیاتره ځمکې خپلو پخوانیو مالکانو ته وسپارل شوې؛ خو، د حکومت لپاره ستونزمنه وه، چې ټولې ځمکې بیرته وسپاري؛ ځکه، هغه خلک چې د انقلاب او ناپیلیون په وخت کې د ځمکو مالکان شوي وه، د هغوی څخه ځمکو بیرته اخیستل ډیر مشکل کار وه، ویل کیږي، چې د ۱۸۲۰ ز کال پورې نیمایي امرینو خپلې ځمکې وسپارل شوې او په دې سره پاچاهیت په فرانسه کې خپله پخوانی نظریه خپله کړه؛ مګر، په دې کار کولو سره، هم فیوډالانو خپل قوت د لاسه ورکړی وه؛ ځکه، نو هغوی د ځمکو پر ځای د حکومتي دندو د لاسته راوړلو لپاره زیاتې هلې ځلې کولې، ځینې امرینو د حالاتو د بدلیدو سره، خپل دولت په صنعت کې ولګوه او په دې سره، هغوی د بورژوا طبقه نوره هم پیاوړې کړه.

د فرانسې فیوډالي نظام د انقلاب نه وروسته بیا سر را اوچت نه کړ او د صنعتي پرمختګ او سیاسي تغیراتو سره له منځه ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جرمني (پروسيا)

د انګلستان او فرانسې برعکس د فيوډاليزم دريم ډول د جرمني دى، دا رياست(ولايت) د جرمنى د اتحاد نه مخکې د جرمني د ټولو ولاياتونو مهم ولايت وه، کله، چې ناپيليون جرمنيانو ته شکست ورکړ او هغوى يې په سياسي ډول د ذلت سره مخ کړل؛ نو، په هغوى کې يو ډول ملي(قومي) شعور ډير په شدت سره پيدا شو، دا احساس پيدا شو، چې جرمني ولې ماته وخوړه؟ او بايد د ماتې نه درس واخيستل شي؟ کله، چې هغوى حالات وليدل؛ نو ، دې نتيجې ته ورسيدل، چې د ماتې وجه بې اتفاقي، د رياستونو تر منځ د هم اهنګى نه شتون او د فيوډالي نظام موجوديت وه، په دې وخت کې د جرمني نظام ډير پياوړى وه، د توليد په ذرايعو باندې د فيوډالانو واک وه، فوځ او نورو لوړې دولتي دندې په واک درلودې، کله، چې په ۱۸۰۶ ز کال کې د فوځ کتنه وشوه؛ نو ، مالومه شوه، چې ۱۴۲ جنرالان د ۶۰ کلونو، ۱۳ د ۷۰ کلونو او ۴ د ۸۰ کلونو د عمر لرونکي وه.

فيوډالي کورنيو ته امتيازات په ميراث کې ورکول شوي وه؛ ځکه، نو هغوى په ژوند کې د څه کولو لپاره هلې ځلې نه کولې او هر څه ورته خپله په لاس ورتلل، يو شخص ويل، چې د امرينو نه بغير نور خلک د هيڅ ډول ښيګڼو لرونکي نه دي، مګر، ددې حالت پر ضد د خلکو جذبات راپاريدلي وه، په ۱۷۷۴ ز کال کې يو اخبار داسې وليکل، په يو متمدن قوم کې بايد د ښاري اوسيدونکي حيثيت د هغه د شخصي صفاتو نه وټاکل شي، نه په ميراثي ډول، په ټولنه کې د هر ډول شخصيت د لاسته راوړلو لپاره بايد خواري وکړل شي، داسې نه چې د خوارئ او زحمت نه پرته يې لاسته راوړي.

په جرمني کې هم، لکه د نورو اروپايي هيوادو په شان، فيوډالان د امتيازاتو څخه برخمن وه، په قضاء کې د هغوى پر ضد مقدمه نه شوه کيداى، ددې لپاره د هغوى خپلې عدالت خونې وې، د حکومت او کليسا ټولې ښې دندې د فيوډالانو سره وې، په دې سره نه يوازې هغوى د خپلو ګټو لپاره کار اخيسته، بلکه د پاچا په پريکړو باندې يې هم اثر درلوده.

په اتلسمه پيړئ فيوډاليزم ورو،ورو د کمزورى په طرف روان وه، د اصلاحاتو په وجه په زراعت کې ښه والى رامنځته شو، په دې سره زميندار او بزګر دواړو ګټه وکړه، جرمني کې د زراعتي اصلاحاتو پايله کې داسې شول، چې بزګرانو ته اوس معاش(تنخوا) د نغدو پيسو په ډول ورکول کيده، دې کار بزګر ازاد کړ؛ ځکه، هغوى په دې سره کولاى شول، چې هر چيرې وغواړې په نغده تنخوا باندې کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله، چې په ښار کې صنعت کاره طبقه رامنځته شوه او دولت ورسره پيدا شو؛ نو، د خپل ټولنيز حيثيت د لوړولو په خاطر يې ځمکې اخيستل پيل کړل، د ديوالي کيدو په وخت کې به حکومت د فيوډالانو سره مرسته هم کوله او د قانون په وړاندې به يې ملاتړ هم کاوه؛ خو، ددې سره، سره د مالي حالت د خرابوالي له امله مجبوريدل، چې خپلې ځمکې وپلورې.

د ۱۸۰۰ ز کال نه وروسته د فيوډالانو ځيني امتيازات لکه د توري ساتل، ځانګړی لباس اغوستل او په تياتر کې د هغوی لپاره د ځانګړو ځايونو پريښودل پای ته ورسيدل، ۱۸۰۸ ز کال کې د فوځ اغيز کم شو، اوس هلته په دندو مقرريدل په لياقت او استعداد باندې وټاکل شول، همدغه طريقه په بيوروکراسۍ او ديپلوماسۍ کې هم استعمال و.

په پروسيا کې د حکومتي، ټولنيز او اقتصادي نظامونو د تغير پيل خپله حاکمو طبقو وکړ، ددې تغيرات دوه وجې وې: لومړی، د فرانسې نه د ماتې خوړولو، وروسته د پخواني نظام خامی مالومې شوې، دويم د انګلستان د صعنتي پرمختګ سره د مقابلې احساس؛ ځکه، نو حاکمې طبقې فکر وکړ، چې پخوانی نظام بايد د اصلاحاتو له لارې تغير کړل شي، د نوي نظام لپاره ضروري وه، چې عام خلک په کې شريک شي، طبقاتي توپير پای ته ورسيږي، خلک بايد په لياقت او ذکي توب باندې مخکې ولاړ شي او پوره اقتصادي ازادي بايد رامنځته شي، ددې خبرې اعلان په ۱۸۱۰ ز کال کې شو، چې اوس به د حکومت ټول خلک ازاد وي، د بزګرانو قرضونه، ميراثي غلامي او په ځمکو باندې د ملکيت حق يې ليرې کړ.

د ځمکې د ازادانه اخيستلو او پلورلو په وجه مالداره سوداګرو ځمکې اخيستل پيل کړل، کله، چې بزګر ازاد شول؛ نو، فيوډالان په خطره کې شول، قانوني ساتنه، چې ورکول شوې وه، هغه يې ليرې شوه، په دې سره د هغوی ټولنيز او اقتصادي قوت ته ضرر ورسيده، حالاتو هغوی مجبور کړل، چې خپلې ځمکې وپلورې، په دې اصلاحاتو باندې زياتره فيوډالانو نيوکې هم وکړې او يو پاچا هغوی مخاطب کړل، داسې يې وويل: که، چيرې رائل هايي نس ما او زما اولاد د جائداد او کورنيو حقوقو څخه محروم کړي؛ نو تاسو بيا د کوم قانون په اساس د حقوقو خاوندان ياست، ليکن پروسيا او جرمني کې فيوډاليزم پای ته رسيدلی وه او دا د هغوی د قوم په ګټه وه، چې بايد پای ته ورسيږي، تر څو د نورې اروپا سره مقابله وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په نورو اروپايي هيوادونو کې هم د فيوډاليزم ريښې کمزورې کيدې، کله، چې ناپيليون بوناپارت په بلجيم او رائن لينډ کې د کليسا ځمکې په ولکه کې رواستي؛ نو، هغه هلته فيوډالي ټيکسونه او قرضونه ختم کړل، په پولينډ او روسيه کې د ۱۸۱۵ ز کال پورې فيوډاليزم پاتي وه، ددې وروسته هلته هم بزګران ازاد شول؛ خو، د ځمکې د ملکيت حقوق يې ورنکړل، په پولينډ او روسيه کې فيوډالانو داسې صلاحيت نه درلوده، لکه څنګه چې په انګلستان او پروسيا(جرمني) کې درلوده، هلته د اصلاحاتو په پايله کې بزګر غريب پاتې شول، دا توپير د ختيځې او لويديځې اروپا په پرمختګ کې ښه ليدل کيږي؛ خو، د اتلسمې ز پيړۍ د پای پورې فيوډاليزم په اروپای کې خپل اغيز له لاسه ورکاوه.

حوالې:

۱- G.M Trevelyan: English Social History, Longman, London 1962

۲- Solvemini: The French Revolution, London, 1958

۳- The age of Napoleon, New York, 1967

۴- ويل ډورانټ Rousseau and Revolution

۵- Europe Since Napoleon, Penguine, 1966

۶- J.J Sheen: Genman History, 177-1866, Oxford Elarendon 1989

۷- ډيوډ ټامسن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مسلمان حاکمان او د ځمکوالۍ نظام

هند ته مسلمانو فاتحینو د ځان سره د منځني ختیځ د ځمکوالۍ نظام راوړ، دلته اړینه ده، چې پوه شو، په عربو او نورو مسلمانو حاکمانو کې دغه نظام په کوم ډول موجود وه.

کله، چې عربو عراق ونیوه؛ نو، د ځمکې د ملکیت د حقوقو په اړه ورسره فکر پیداشو، کله، چې د دویم خلیفه حضرت عمر(رض) نه په دې باره کې پوښتنه وشوه؛نو، هغه د ملکیت ورکولو نه انکار وکړ، ویل یې، چې په دې کار سره به ځینې کورنیو ته ګټه ورسیږي او د راتلونکو نسلونو حقوق به غصب شي، دویم خلیفه داسې تصمیم ونیوه، چې د ځمکې د ورکولو پر ځای دې، د ځمکې امدن د خلکو د فلاح او بهبود لپاره استعمال شي.

خو، اقطاع[1]، چې کرل پرې نه کیدل، هغه یې مختلفو خلکو ته ورکړې، چې د کرلو لپاره یې جوړه کړي، ددغو ځمکو څخه ټیکس نه اخیستل کیده، کله، چې دغه ځمکې د کرلو وړ وګرځیدې؛ نو، بیا شخصي شوې او په میراثي ډول په کورنیو کې پاتې شوې.

دغه اقطاع دوه قسمه وې، مملوکه اقطاع او ازاده اقطاع، ماوردي په خپل کتاب الاحکام السطانیه، کې په دې اړه خبرې کړې دي، د هغه مطابق مملوکه اقطاع کې درې ډوله ځمکې شاملې وې، غیر اباد شوې ځمکې، ابادې ځمکې او هغه ځمکې، چې هلته کانونه راویستل کیدل، غیرابادو ځمکو باندې د حاکمانو حق وه، چې هر چاته یې د ابادولو لپاره ورکولې، په دې اړه د فقهاوو اختلاف دی، چې د ابادولو نه وروسته به دغه ځمکه د هغه شخص سره تر څو پورې وي؛ خو، په عام ډول زیاتره وخت، به دغه ځمکې د هماغه شخص سره پاتې کیدې.

ازاده اقطاع د کرلو وړ ځمکې وې، دغه ځمکې به د ټیکس د ورکولو نه وروسته مالک ته ورکول کیدې، مالک به د بزګرانو نه خراج او د ځمکې ټیکس اخیسته او خپله به یې عشر ورکاوه.

د فوځي خدمت په بدل کې د ځمکولو ورکولو کار د ال بویه (۹۴۵-۱۰۵۵) په حکومت کې پیل شوې، فوځي افسرانو ته به یې د تنخوا په بدل کې ځمکه ورکوله، په سلجوقي دور کې د نظام المک طوسي (۱۰۹۵مړ) نه وروسته دغه کار رامنځته شو او فوځي افسرانو ته د فوځي خدمت په بدل کې ځمکه ورکول پیل شول، دا کار یې ځکه کاوه، چې هغوی به په دې سره د ځمکې ډیر خدمت کاوه، په سلجوقي

[1] د ځمکې یوه برخه، چې د فوځي خدمت په بدل کې ورکول کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دور کې ميراثي توب پای ته ورسيده، اقطاع لرونکی شخص به د حاکم لخوا ټاکل کيده او رد و بدل کول به يې، په مرکزي حکومت کې د اقطاع لرونکي ټول اسناد ساتل کيدل، چې د چا سره څومره ځمکه ده، څومره ټيکس لاسته راځي او څومره په فوځ باندې مصرفوي، په همدې شرائطو به د هغه سره دنده ټاکل کيده، د اقطاع په نظام کې ځمکه د هغه شخص نه وه، بلکه، د حکومت لخوا به ورکول کيده، دا به د هغه وړتيا ته کتل کيده او بيا به يې ځمکه ورکوله، که کار به يې ښه کاوه؛نو ، نو ځمکه به يې زياتوله؛ خو، که غلطي به يې وکړه، ځمکه به يې ترې اخيستله، د حاکم د خوشالولو نه وروسته به يې بيا ورکوله، اقطاع لرونکي شخص ددې صلاحيت نه درلوده، چې ځمکه وپلوري يا يې بل چاته ورکړي او وصيت يې هم نه منل کيده، د اقطاع لرونکي شخص په بزګرانو باندې کوم سياسي، عدالتي يا خصوصي واک نه درلوده، په ټولنه کې د اقطاع لرونکي شخص مرتبه د ځمکې په اساس نه وه، بلکه، د هغه د شخصيت (حيثيئت) تعين به د هغه په منصب، فوځي رتبې او د حاکم سره په اړيکو باندې کيده.

اروپايي فيوډاليزم داسې نظام وه، چې په هغه ټولنيزه رتبه او درجه د سياسي واک، د ژوند طرز او اقتصاد په اساس ټاکل کيده او تر ټولو مهم په کې د هغه شخص د ځمکې توليد وه.

کله، چې سلجوقي حاکمان کمزوري شول، اقطاع لرونکو خلکو ترې ګټه واخيسته او په ځمکو باندې يې قبضه وکړه او ميراثي شکل يې ورکړ، د سياسي نظام په خرابۍ سره هغوی د بزګرانو په ځمکو باندې قبضه کول پيل کړه او خپله يې وګڼله، په دې سره هغوی د اروپايي فيوډاليزم سره لږ څه نږدې شول.

## د سلطنت د وخت فيوډالېزم

هند ته غوري فاتحينو د خپل ځان سره فيوډالي نظام راووړ، په دې نظام کې ځمکه په درې ډولونو باندې ويشل شوې وه، لومړی خالصه ځمکه، چې د حاکم د مصرف لپاره ځانګړې شوې وه، دويم، اقطاع چې فوځيانو ته ورکول شوې وې، دوی د امرينو رتبه هم درلوده او اقطاع لرونکي هم وه، دوی د سياسي او ټولنيزو واکونو لرونکي هم وه، چې په دې سره خپل عايد زيات کړي، دريم هغه ځمکې وې، چې د مذهبي او ټولنيزې فلاح او بهبود لپاره ترې ګټه اخيستل کيده.

اقطاع لرونکي خلک د حاکمانو د بدليدو سره بدليدل، د غوري حاکميت په وخت کې، چې کومو امرينو ته اقطاع ورکول شوې وې، په هغوی کې ازاد او غلام دواړه شامل وه، څرنګه، چې په دې وخت مرکزي حکومت دومره قوي نه وه؛ نو، په دې سره اقطاع لرونکو خپل اثر زيات کړ، هر وخت امرين

(c) ketabton.com: The Digital Library



بغاوت ته تیار وه، د امرینو د عروج دور د التمش د سلطنت نه ورسته زیات شو، کله چې د امیر (چهل ګانه) په نوم د امرینو یو ګروپ جوړ شو، دغه ګروپ خلک په جائداد، دولت او خطبو کې یو برابر وه، دوی دومره قوي شوي وه، چې د پاچا خیال یې هم نه ساته، دغه خلکو د خپلو ګټو د ساتلو لپاره د خپلې خوښې پاچا په تخت باندې کیناوه، کله، چې راضیه سلطانه د هغوی خوښې نه بغیر په تخت باندې کیناسته؛ نو، هغوی ټولو په شریکه هغې ته ماتې ورکړه، کله چې بلبن (۱۲۶۶-۸۶) په تخت باندې کیناست؛ نو ددې ګروپ زور پای ته ورسید، څرنګه، چې بلبن هم یو وخت ددې خلکو سره؛ نو، د دوی د کمزورۍ نه ښه خبر وه، بلبن په دې باندې ښه پوهیده، چې دده پاچاهي تر هغه وخت پورې نه قوي کیږي، تر څو ددې امرینو زور له منځه یونسي؛ ځکه، نو ده دغه امرینو یو،یو تقسیم کړل او د ضیاءالدین برني مطابق د دوی مشر ته یې شراب یا زهر ورکړل او بیا یې وواژه.

علاءالدین (۱۲۹۶-۱۳۱۶) په یوه دسیسه کې خپل ماما وواژه او واک یې په خپل لاس کې واخیست، په لومړیو کې ځینو امرینو کوښښ کاوه، چې علاءالدین ووژني او حکومت په خپل لاس کې واخلي، امرینو ځکه دا کار کاوه، چې د هغوی سره زیات دولت جمع شوی وه.

علاءالدین د زمیندارو د زور او قوت د پای ته رسولو لپاره ځینې زراعتي اصلاحات وکړل او داسې حکم یې وکړ، چې د شنو ځمکو څخه دې نیمه برخه واخیستل شي، ددې پایله دا شوه، چې:

د چودهریانو بغاوت کول، په اسونو باندې سپریدل، د وسلو ګرځول، ښه لباس اغوستل او د پان خوړل یې بلکل پای ته ورسول، د محصول په ورکولو کې په ټولو باندې یو ډول حکم نافذ شو، خلک داسې اطاعت پیل کړل، چې یو سپاهي به شل چودهریان رانیول، په غاړه کې به یې ورسته رسۍ اچوله او کشول به یې، تر څو محصول ترې واخلي، د یو هندو لپاره هم دا امکان نه وه، چې هغه دې سر اوچت کړي، د هندوانو په کورونو کې نقرې او نور اړتیا وړ شیان، چې د بغاوت او سرکشی باعث به ګرځیده، د هغې شیانو نوم او نښان پاتې نه شو.

کله، چې لودي کورنی (۱۴۵۱-۱۵۲۶) کلونو کې واک ته ورسیده؛ نو، ځینې اقطاع لرونکي د سیاسي ګډوډۍ او د مرکزي حکومت د کمزورۍ په وجه ازاد او خودمختاره شول او ځینې په دې ګډوډۍ کې ورک شول، څرنګه، چې لودیانو د پښتنو سره اړیکې درلودې؛ ځکه، نو هغوی د نورو نسلونو په خلکو باندې باور نه کاوه، بهلول لودي په ځانګړي ډول د پښتنو نه وغوښتل، چې هند ورشي او د هغه سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لودي او سوري حکومتونو کې افغان ځمکوال په خپلو ځمکو کې اوسیدل، په دې د هغوی اړیکې د ځایي اوسیدونکو سره ډېرې ژورې شوې وې، هغوی هندي رواجونه خپل کړي وه او د اوسیدو صفات یې هم ځایي خلکو ته ورته شوي وي، ددې په مقابل کې ترکانو او ایرانیانو خپل ځانونه د ځایي خلکو نه لوړ ګڼل، د فارسي ژبې په وجه هم د هغوی او د ځایي خلکو تر منځ دومره اړیکې نه وې، افغانانو ځایي ژبې زده کړې او د هند سره یې اړیکې ډېرې ژورې شوې.

## د مغلو د وخت فیوډالېزم

د ځمکوالۍ اصطلاح په پنځلسمه زیږدي پیړۍ کې په هند استعمال شوه، ددې نه مخکې به یې تیول یا د اقطاع لفظ استعمالوه، بابر (۱۵۲۶-۱۵۳۰) کلو کې د پخوانیو سلاطینو روایت جاري وساته او د اقطاع نظام یې هم په خپل ځای باندې پرېښود او د فتحې څخه وروسته یې ځمکې خپلو امرینو ته ورکړې. همایون (۱۵۳۰-۱۵۵۵\۵۶) کلو، د هغه سره دومره وخت نه وه، چې هغه دې نظام قوي کړي، ددې نظام دویم ځل جوړول اکبر پاچا (۱۵۵۶-۱۶۰۵) کلونو، تر منځ وکړ، په دې وخت کې، ځکه ددې لپاره ورکول کیده، چې فیوډال به د مرکزي حکومت لپاره فوځ برابروي، د اکبر په وخت به فوځي او نورو منتظمینو ته هم د تنخوا (معاش) په مقابل کې ځمکه ورکول کیده.

د هیواد په هره برخه کې به، چې وغوښتل شول؛ نو، ځمکه به یې منصبدارانو ته ورکوله، دا ددې لپاره، چې فیوډال په خپله سیمه کې دزیات اثر خاوند نه شي، د هرو دریو یا څلورو کلونو وروسته به یې تبدیلي کیده، کله، به یې سند ایالات ته او کله به یې د بنګال ایالات ته لیږه، د فیوډالانو تبدیلی منفي او مثبتې اغیزې لرلې، د فیوډال د تبدیلی په وجه به په ځمکه ې تغیرات هم راتلل؛ ځکه، د یو فیوډال د تلو او د بل د راتلو به ډېر وخت لګیده، د فیوډالانو په دې تبدیلی سره به فیوډالانو ځمکې ته کومه خاصه توجه نه کوله او ځمکه به یې د خپل لاس لاندې اشخاصو ته، چې ټیټ رتبه کسان وه، هغوی ته پرېښودله، ددې ګټه دا وه، چې د فیوډال په تبدیلی سره به، هغه د هیواد د هرې سیمې سره بلدتیا پیداکوله او ټولنې سره به یې اړیکې زیاتیدلې.

فیوډال به د ټیکس او مالیې د ورکولو لپاره یو کارکن ټاکه، لویو فیوډالانو به د کوچنیو فیوډالانو نه د ځمکې ښه ساتنه کوله؛ ځکه، د هغوی سره وسائل او کسان زیات وه، د شهزادانو ځمکې به خالصه ځمکې وې، د هغوی د ځمکې ځمکوال ته به یې کروړي ویل، د امین په نوم شخص به د ځمکې مهم شخص ګڼل کیده، دې شخص به په فصل باندې ټیکس(مالیه) وضع کوله، یو خزانچي هم موجود وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارکن به حساب کاوه، کله، به يو شخص ته دوه کارونه هم سپارل کيدل، د عامو فيوډالانو کارونه به تعلقدار ته سپارل کيده، چې همدا يې نوم وه، د ځمکې نه اخيستل شويو پيسو ته به يې قبض ويلی، ځمکوال به هغه عامل ته ترجيح ورکوله، چې زيات قبض به يې ورکاوه، د عاملينو په ټاکلو کې به يې داسې کسانو ته ترجيح ورکوله، چې ځايي اوسيدونکي به نه وه؛ ځکه، په دې صورت کې به هغه، د خپل ذات، خپلوی او کورنۍ اړيکې پاللې او رعايت به يې ورسره کاوه، د عاملينو څآرنه به ستونزمنه وه؛ ځکه، فيوډال به زياتره وخت د ځمکې نه ليرې وه؛ نو، د ځمکې د معاملاتو څارنه به ورته ستونزمنه وه، په دې وخت کې به ځيني غلطيو(غلا) هم صورت نيوه.

ځيني فيوډالانو به د ټيکس د وصولو لپاره خپلې ځمکې په فوځيانو باندې تقسيمولې، تر څو هغوی ترې خپل مصرف پوره کړي، دا کار به زياتره کوچنيو فيوډالانو کاوه؛ ځکه، هغوی به ليرې اوسيدل او ځمکه به يې په ښه توګه سره نه شوه اداره کولای، کله، کله به لويو فيوډالانو خپلې ځمکې سوداګرو ته ورکولې، تر څو ټيکس وصول کړي.

حکومت فيوډالانو ته دومره رخصتي نه وه ورکړې او هغوی به يې د قوي څارنې لاندې نيول، ددې هدف د لاسته راوړلو لپاره يې ځيني اشخاص مقرر کړي وه، تر څو وګوري، چې د هغوی عامل خو د بزګر نه زياته ماليه نه اخلي او د هغه سره ښه سلوک کوي، په دوی کې به قانون پوه، فوځي يا قاضي شامل وه، قاضي ته عدالتي واک ورکول شوی وه، په پريکړو کې به خپلواک وه او د فيوډالان د لاس لاندې به نه، ددې نه بغير سوانح ليکونکی او واقعه ليکونکی هم وه، چې دربار ته به يې حالات بيانول، بزګر ته د شکايت ورکولو اجازه ورکول شوې وه، په داسې حال کې، چې فيوډال به د شکايت کولو مخه نيوله؛ خو، ددې سره به واقعه ليکونکي دربار ته خبر(اطلاع) ورکوله.

مغلي دربار به د ځمکې د امدن پوره حساب کتاب کاوه، مغلي منصب دار د ټيکس د وصول کولو حق درلوده؛ مګر، په ځمکه باندې يې کوم حق نه درلود، دا کار به ميراثي نه وه، لوی منصب دار به د يوې څخه زياتې ځمکې هم په لاس کې درلودې، د منصب دار لپاره دا ضروري نه وه، چې د ځمکې سره نږدې واوسيږي، هغوی به يو د بل څخه ليرې وه، لوی فيوډال به ځمکه د زيات وخت لپاره هم د ځان سره ساتله، چې لس کاله وخت يې درلوده، مرکزي حکومت به د ژور لاندې نيولې وه، چې د ټيکس په وصولو کې ظلم ونکړي، د ټيکس(ماليي) د ورکولو لپاره يې جلا قوانين جوړ کړي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مغلي فیوډالېزم زوال

کله، چې سلطنت زیات پراخه شو؛ نو، د مغلي فیوډالیزم زوال پیل شو او کله، چې منصب داران او فیوډالان زیات شول، په داسې حال کې، چې د سلطنت د پراخیدو سره نورې ځمکې هم د سلطنت په ولکه کې راغلې؛ مګر، د هغې تناسب د منصب دارو په تعداد نه کم وه، د اورنګ زیب په وخت کې، منصب دارانو ته په کلونو، کلونو ځمکې نه ورکول کیدې، د ځمکې د اخیستو لپاره به دغو منصب دارانو سفارشونه کول، رشوت به یې ورکاوه او د خپلو ګټو لپاره به یې ګروپونه جوړول، دې حالت د دربار حالت بدل کړ.

لومړي بهادر شاه (۱۷۰۷-۱۷۱۲) کلونو، په وخت کې، کله، چې د ځمکو ضرورت پیښ شو؛ نو، هغوی یې د خالصو ځمکو نه وویستل، کله، چې دا هم ختم شول؛ نو، داسې فکر رامنځته شو، چې په راچپوتانه باندې حمله وکړي او د هغه ځای ځمکه په خپل واک کې او د فیوډالی په طریقه یې ورکړي؛ مګر، په دغه وخت کې په فوځ کې دومره قوت نه وه، چې هغوی دې د راچپوتانو سره جګړه وکړي؛ ځکه، نو دا یو خیالي فکر وه، فرخ سیر(۱۷۱۳-۱۷۱۹) کلونو، کې حالت داسې شو، چې کاغذونه به یې ورکول؛ خو، په ځمکه به یې قبضه نشوه کولای، اوس په ځمکه باندې هغه څوک واکمن کیدای شو، چې د هغه سره فوځي قوت زیات وه، کله، چې به فوځي شخص هلته واکمن شو؛ نو د هغه ځای نه به یې ټوله مالیه (ټیکس) اخیسته او مرکزي حکومت ته به یې هیڅ نه ورکول او دا به یې خپل حق ګاڼه.

د اورنګ زیب نه وروسته، د تخت د حاصلولو لپاره د مغلو تر منځ په خپلو کې جګړې وشوې؛ ځکه، نو هر فیوډال به د دهوکې په ډول خپل کسان د فوځ په شکل باندې تیارول، د هغوی نه به چې څوک پاچا شوه؛ نو په خپلو کسانو به یې ځمکه ویشله؛ ځکه، نو محمد شاه (۱۷۱۹-۱۷۴۹) کلونو، کې داسې حالت رامنځته شو، چې خالصې ځمکې ټولې له منځه ولاړې، دې کار د پاچا اختیارات کم کړل، په دې سره د پاچا په حیثیت باندې ستره اغیزه ولویده؛ ځکه، پاچا د خپلې عملې لپاره مصرف نه شو پوره کولای، حتی خپل شخصي مصارف یې هم نه شو پوره کولای، د عملې د معاش د ورکولو لپاره نورو ته محتاج شو، دې مالي بحران د دربار انتظامات هم ګډوډ کړل، د کلا عملې ته به په میاشتو، میاشتو معاش نه ورکول کیده، پاچا د خپلو شخصي مصارفو د پوره کولو لپاره نورو ته سوال کاوه، په دې سره به هغه د ختیځ هند د کمپنۍ په غیږ کې ولویده، مغل پاچا یوازې پاتې شو، د امدن ټولې لارې پرې وتړیدې او ایالاتونه عاملینو په خپل فوځي قوت باندې په زور اداره کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اجاره داري

د فيوډاليزم ددې بحران نه د ويستو لپاره فيوډالانو د اجاره دارۍ سيستم ته مخه کړه، په دې سره فيوډال د ټول کال امدن اخيسته او ځمکه به يې په اجاره باندې ورکوله، دا کار په لومړي ځل د جهانګير(۱۶۰۵ -۱۶۲۷) پاچا په وخت کې پيل شو او د شاه جهان(۱۶۲۸-۱۶۵۷) کلونو تر منځ زيات مشهور وه، دې سيستم په خالصه ځمکو باندې رواج نه درلوده، دې نظام په خپلولو سره به فيوډال ته ګټه رسيده؛ خو، دې حالت د بزګرانو ژوند خراب کړ، دې کار کروندې ته هم زيان ورساوه، اورنګ زيب ددې کار د پای ته رسولو لپاره ځيني اقدامات هم وکړل؛ خو، بيا هم دا کار پاتې شو، د مغلو په وروستي وخت کې د سياسي حالت په وجه دا کار بيا رامنځته کړ، په دې کار کې هغوی ته کوم زيان نه وه او نه يې کومه خواري کوله؛ ځکه، نو د بهادر شاه د وخت نه تر فرخ سير د وخت پورې دغه د اجاره دارۍ نظام حاکم وه.

حوالې:


۱- Ancient Indian Social History: Orient Longman, Dehli, 1978.

۲- ارتهـ شاسرت(اردو ترجمه) کراچيو ۱۹۹۱.

۳- رام شرن شرما، ساجمی تبديلياء: از منه وسطی، مکتبه جامعه دهلي، ۱۹۷۵.

۴- ډي-ډي- کوسمبی An introduction to the study of Indian History. Bombay 1956>

۵- الماروديِ، الحکام السطانيه( اردو ترجمه) کراچی ۱۹۶۵.

۶- Ira M. Lapidus: A history of Islamic Societies Cambrige 1988

۷- خواجه نعمت الله هروی، تاريخ خان جهان و مخزن افغاني، ۱۹۷۸، لاهور.

۸- ايليټ اينډ ډاسن، History of India as told by its own Historians, New York, 1970>

(c) ketabton.com: The Digital Library



٩- محمد اشرف، هندوستاني معاشره عهد وسطى مى، فكشن هاوس، لاهور، ١٩٩١.

١٠- نعمان صديقي، مغلو كا نظام مالګذاري، لاهور ، ١٩٩٠.

١١- عرفان حبيب،

١٢- مقالات سر سيد، لاهور ١٩۴٠.

١٣- عبدالقادر بديواني، منتخب التواريخ، حصه سوم(انګريزي) كلكته ١٩٢۶.

١۴- مور ليند، اكبر سي اورنګ زيب تک(اردو) وهلي ١٩٨٧.

١۵- شتيش چندر.

١۶-مظفر عالم The Crisis of Empire in Mughal North India, Oxford Dehli, 1986.

١٧- اطهر علي Mughal Nobility under Auranghzeb, Bombay, 1970.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فيوډالي کلتور

هر نظام خپل، خپل روايات، ادارې او حکومت جوړوي، په همدې اساس ورسره نوی کلتور هم پرمختګ کوي، فيوډاليزم هم داسې يو کلتور رامنځته کړی وه، دې کلتور د فيوډاليزم د ساتلو سره ډېر کومک وکړ، ددې کلتور په اساس په ټولنه کې توپيرونه او امتياز هم رامنځته شول، فيوډال به ځان د نورو نه برتره ګڼله؛ ځکه، که هغه به دا کار نه کاوه؛ نو، په ټولنه کې به د هغه لپاره عزت لاسته راوړل ستونزمن وه، په فيوډاليزم کې داسې روايات او اخلاق رامنځته شول، چې په عوامو او خاصو خلکو کې ستر توپيرونه رامنځته کړل.

## کورنۍ

دا توپير په کورني سيستم کې زيات موجود وه، داسې به ويل کيده، چې د لوړې طبقې خلک يا فيوډالان رامنځته کيږي نه، بلکه دوی د پيداينت سره پيداشوي وي، د دوی وينه هغوی د ټيټو خلکو نه لوړوي، د وينې پاکوالی په دې کلتور کې ځکه ضروري وه، چې کورني صفات پاتې شي او ګډوډې په کې رانشي، شريفې کورنۍ به د خپلې وينې د پاکوالي لپاره په نورو ورکو کورنيو کې وادونه نه کول، په دې طريقه به د پاکوالي اړيکه د واده پورې تړل کيده، که هلک او انجلۍ به د يوې رتبې د کورنۍ څخه وه نو اولاد به نجيب الطرفين وه، که د انجلۍ اړيکه به د ټيټې پايې د خلکو سره وه؛ نو، د هغې د اولاد ټولنيزه رتبه به هم ټيټه وه.

په فيوډالي نظام کې د فرد پيژندنه ددې لپاره هم وه، چې کورنۍ حيثيت يې مالوم شي، ددې اړيکې په واسطه به هغوی ته قانوني درجه ورکول کيده او په جائداد او نورو امتيازاتو باندې په يې حق درلوده، په دې وجه به هغوی ته لوړې دولتي دندې هم ورکول کيدې، په ځينو ټولنو کې به دې کورنيو ته ځينې ځانګړې دندې هم سپارل کيدې، ددې کار لپاره به، هغوی کوښښ کاوه، چې ددې کورني اړيکې د نورو سره پراخه نه شي؛ ځکه، دوی نه غوښتل، چې دغه امتيازات نورو ته ورکړل شي، د کورنۍ د قانوني حيثيث د ساتلو لپاره دا رواج وه، چې خپلې شجرې به يې ليکلې او ساتلې، هغه خلک به چې د لوړې حوصلې خاوندان وه، هغوی به خپل تاريخ هم ليکه، په دې تاريخ کې به هغوی د خپلو نيکونو کارنامې او لوړوالی بيانوه، د دوی په محفلونو کې به داسې داستان ويونکي موجود وه، تر څو د دوی د کورنۍ لوړوالی بيان کړي او په اوريدونکو باندې خپل رعب واچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه کوچنيان به، چې په داسې ماحول کې پيدا شول؛ نو، په خپلې کورنۍ باندې به يې وياړ کاوه، د هغوی دې فکر به نور هم زور اخيسته، چې دده په مقابل کې نورې کورنۍ ديرې د کوچنې حيثيت لرونکي دي، هغو کورنيو به چې خپلې شجرې نه ليکلې؛ نو، نويو کورنيو به هغوی د خپل ځان برابر نه ګڼل، مثلا، په فرانسه کې پخوانې امرينو ته (د تورې امرين) ويل کېده، دوی دا رتبه د خپلو جنګي مهارتونو په اساس تر لاسه کړې وه؛ ځکه، نو هغوی د (جبې د امرينو) په مقابل کې، چې د دوی اړيکه د نظام سره وه، هغوی پرې ځآنونه لوړ ګڼل.

په منځنيو پيړيو کې په ټولنه کې د عزت د لاسته راوړلو لار جنګي مهارتونه وه، علم او ذهنيت نه وه[1]؛ ځکه، نو د امرينو کورنيو به توره چلول او په اس سپرېدل زده کول او دا لازمي وه، ددې نه دا فکر اخيستل شوی وه، چې جنګي مهارت انسان کلک او د مقابلې لپاره تياروي؛ خو، علم او ادب انسان کمزوری او بزدله کوي.

زياتره مؤرخينو د ټولنې زوال د کورنۍ په زوال کې ګوري او وايي، چې پخوانۍ کورنۍ څنګه تباه شوې او خپل عزت او وقار يې څنګه له لاسه ورکړ؛ ځکه، نو د کورنۍ تباه کېد د ټولنې تباه کېدل دي.

د فيوډالانو په کورنيو کې د کوچنيانو پالنه د ملازمينو په لاس کې وه، په دې اساس د مور او پلار سره يې اړيکې دومره نه وې، ملازمينو به د کوچنيانو هره غوښتنه پوره کوله، په دې سره په دوی کې، په کوچنيوالي کې د امر کولو حس پيدا شو، چې د مشر او سپين ږيري سړي عزت به يې نه کاوه؛ ځکه، نو د پيل راهيسې هغوی عامو خلکو ته د حقارت په سترګه کتل او د کوچنيانو سره د هغوی د عزت څه خيال او فکر نه وه.

## عزت

د کورنيو سره يو هم تړلی شی د عزت فکر وه، خانداني فرد به دا خپل حق ګاڼه، چې په ټولنه کې دې د هغه احترام وشي او هغه خلک چې دده څخه په درجه او رتبه کې کم دي، هغوی دې د دوی احترام وکړي، دا عزت به په ادابو او نورو رسمونو سره کاوه، کله، به چې هغوی بيرون وتل؛ نو، خلک به د هغوی مخکې ټيټيدل او سلام او اداب به يې وړاندې کول، هغوی به د سلام ځواب د سر په خوځولو سره ورکاوه، د ټيټو درجو خلکو سره به هغوی مخامخ خبرې نه کولې، بلکه د ملازم په واسطه به يې هغوی ته سوال، ځواب ليږه.

[1] يو ځل بيا ورته اشاره کوم، چې دا فکر يوازې په اروپا کې موجود وه (ژباړن).

(c) ketabton.com: The Digital Library



څرنګه، چې په طبقاتي ټولنه کې د فرد احترام د هغوی د رتبو په اساس وي؛ ځکه، نو هغوی به د رتبې د ساتلو عزت کاوه، که، چا به د هغوی د رتبې د ختمولو کوښښ کاوه، یا یې د هغوی سره په بې ادبی خبرې کولې، یا یې د هغوی بدتمیزي کوله؛ نو، دا د هغوی لپاره د برداشت وړ نه وه، کله، به چې د عزت خبره راغله؛ نو، د هر څه نه به تیریدل.

د خپل عزت د ساتلو لپاره به د فیوډالانو تر منځ په خپلو کې مقابلې وې، که، چا به په دعوت کې سل میلمانه رادعوت کول؛ نو دویم کس به د هغه په مقابل کې پنځه سوه تنه دعوت ته رابلل، دوی د عزت د ساتلو لپاره صدقې او خیراتونه ورکول، تعمیرونه به یې جوړول، د فلاح او بهبود کارونه به یې کول، خپل ظاهري شان او شوکت به یې ښکار کاوه، د اوسیدو په ځای او خوړولو کې به یې ځان ښوده، تر یې د عزت وشي او د نورو په مقابل کې کم نه شي، ددې عزت د ساتلو لپاره به یې خانداني روایاتونه ساتل، که د هغوی د اعمالو او کړنو څخه به یې د کورنی بې عزتي وشوه؛ نو، دا د هغوی لپاره ډېره د شرم خبره وه.

## وفاداري

د فیوډالي ټولنې یو مهم خاصیت وفاداري وه؛ ځکه، ددې پرته فیوډالي نظام خپله بقا نه شوه ساتلی، د وفاداری دا روایت په طبقاتي ټولنه کې د کورنی په سطحه پیل کیده، چې د کورنی مشر به یې پلار وه او دا د ټولې کورنی فرض وه، چې د هغه حکم ومني، د هغه اطاعت وکړي او هغه ته وفادار پاتې شي، دویمه مرحله د ټولنو وه، په دې کې د مشر دا حق وه، چې نور باید ورته وفادار پاتې شي، په کلیو کې بزګر زمیندار ته او زمیندار به فیوډال ته وفادار وه.

داسې فکر کیده، چې پوړی په پوړی د وفادارئ دې جذبې په خلکو کې د تابعدارئ جذبه پیداکړې وه او په دې سره به په ټولنه کې مختلفو طبقو خپل موجودیت ساتله، په دې سره به په ټولنه کې طبقاتي فکر نه پیداکیده او د مالداره او غریب تر منځ به ټکر هم نه پیښیده، د طبقاتي فکر د نه موجودیت په وجه به، چا د امر یا فیوډال نه کرکه او نفرت نه کاوه، د وفاداری جذبې دوی د لوړو خلکو سره جوړ کړي وه، دوی به د هغوی شان و شوکت، دولت، عزت او وقار خپل ګڼه او په هغه به یې ویاړ هم کاوه.

د وفاداری یوه وجه دا هم وه، چې دوی د مادیاتو د لاسته راوړلو لپاره هغوی ته اړ وه، په هند کې یې وفاداری ته نمک حلالي ویله، یانې چا چې مالګه وخوړ یا چا چې ورته د خوړولو وسائل تیار کړي وي، د دوی وفادار پاتې کیدل لوی اخلاق شمیرل کیدل؛ ځکه، د ډوډی پیداکول، د ملازمت په وجه ډوډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاسته راوړل ددې شخص لپاره ډير ضروري وه او دا يې د ژوند د بقا لپاره ډير مهم وه، څرنګه، چې فيوډالانو د خپلو لاس لاندې کسانو ته رزق ورکاوه او د توليد لارې هم د هغوی سره وې؛ ځکه، نو هغوی د خپلو لاس لاندې کسانو نه د وفادارۍ غوښتنه کوله.

په جاپان کې د سمورايي طبقه هر وخت د پاچا د قربانۍ لپاره تيار وه، د پاچا لپاره به يې خپله ښځه او ماشومان هم قتلول، د وفادارۍ دا اړيکه هغوی ته په ميراث باندې رسيدلې وه او په دې باندې يې وياړ هم کاوه، دا وفاداري دې حد ته رسيدلې وه، چې د خپل بادار په مړ کيدو سره به يې خپل ځان هم واژه، ددې لپاره چې هغه په هغې نړۍ کې يوازې پاتې نه شي، هلته د ځانوژنې رسم د وفادارۍ ښکارندويه وه.

په اروپا کې د فيوډال او ويسل تر منځ د فادارۍ لوړه(قسم) اخيستل کيده، دا د هغه وخت پورې وه، چې د فيوډالانو ليکل او لوستل نه زده، دا وفاداري به د ټولو خلکو په مخکې اخيستل کيده او د نه وفادارۍ په وجه به هغه خپله ټولنيزه رتبه له لاسه ورکوله.

غداري کول او د خپل بادار سره بد چلند کول په ټولنه کې تر ټول ناوړه عمل شميرل کيده، ددې ډول اشخاصو لپاره به يې د نمک حرام لفظ استعمالوه، ددې يو زړه وړونکی مثال د هند په تاريخ کې دی، کله، چې همايون د ګجرات پاچا بهادر شاه (۱۵۲۶-۱۵۳۷) کلونو، کې ماته ورکړه؛ نو، د هغه يو جنرال رومي خان د هغه سره غداري وکړه او همايون ته ورغی؛ نو، د هرې خوا نه ورته د رومي نمک حرام غږونه کيدل، ددې په اوريدو سره يو طوطي هم دا کلمې يادې کړې او په زوره، زوره به يې د رومي خان نمک حرام چغې وهلې.

## مصروفيتونه

د فيوډالي طبقې د رواجونو په اساس څو مختلفې طبقې رامنځته شوې وې، په دوی کې داسې خلک هم وه، چې ځانونه به يې ډير مصروف ساتل، د جائداد په تنظيمولو کې به مصروف وه، د ماشومانو د سبق په اړه به يې فکر کاوه او د وخت به يې ډير پابندي کوله، د دوی په څنګ هغه خلک هم وه، چې ډير سست او د وخت ضايع کوونکي وه، د هغوی ټول وخت به په رقص، شرابو څښلو او د ښځو سره په خبرو تيراوه، هغوی تعليم ددې لپاره نه خوښوه، چې د هغوی لپاره د وظيفې د پيداکولو وسيله وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه، چې هغوی بې سواده وه؛ نو، ملازمين به د هغوی ددې جهالت نه ګټه اخيسته او هغوی به يې لوټل، داسې کورنی به د خپلې نا اهلی په وجه ډير ژر د زوال سره مخ کيدې.

په عام ډول به د فيوډالو د خوښې مصروفيت ښکار کول وه؛ ځکه، په ښکار کې هغوی ته هغه لذت حاصليده، چې د جنګ په حالت کې به يې اخيسته، په اس سور او ښکار کولو به هغوی ته د زړه ډاډ ورکاوه، ښکار کول د هغوی د قوت او طاقت د ښکاره کولو يوه ذريعه هم وه، کله، به چې د يوې مسلحې ډلې سره ښکار ته تلل؛ نو، په بزګرانو باندې به يې ډير رعب پروت وه.

ښکار کول فيوډالانو د خپل ځان لپاره ځانګړی کړی وه، عامو خلکو ته ددې کار اجازه نه وه، په انګلستان کې د عامو خلکو لپاره سخت قوانين وضع شوي وه، چې د ګيمز لاء (د لوبو قانون) به يې ورته وايه، که عادي بزګر به د ښکار کولو په وخت کې ونيول شو؛ نو، سخته سزا به يې ورکوله؛ ځکه، په دې سره د ښکار په دوران کې هغوی ته د په ځان باور جذبه پيداکيده او د ښکار نه وروسته به يې د فتحې جذبه په ځان کې پيداکيده، ددې ويرې له امله، هسې نه چې دغه جذبات په دوی کې د بغاوت حس راپيدا نه کړي، د ښکار کولو نه يې منع کړي وه.

سپي ساتل يوه بله مهمه مشغولتيا وه، په سپي جنګولو کې مهمه خبر د هغه وفاداري وه؛ ځکه، په فيوډالي ټولنه د وفادارۍ ډير احترام کيده، بيا د سپيو په واسطه د خپل رعيت ډارول هم د سپيو د ساتلو يوه موخه وګرځيده.

ددې نه بغير د حيواناتو جنګول بله مشغوليتا وه؛ ځکه، د جنګ په کتلو سره به هغوی ته ډاډ حاصليده، د حيواناتو جنګول به چې څومره خونړي وه، هغومره به د هغوی جذبو تسکين حاصلوه.

## دوستي او دښمني

په فيوډالي کلتور کې دوستي او دښمني د ډير زيات افراط ښکار شوي وه، که د چا سره به يې دوستي شوه؛ نو، د هغې د ساتلو لپاره به يې پوره کوښښ کاوه او په هر حال کې به يې د خپل دوست ملګرتيا کوله، که د دوستۍ، قانون او اخلاقو تر منځ به د ترجيح سوال منځته راغی؛ نو، دوی به دوستۍ ته لومړيتوب ورکاوه، که دوست به يې په غلطه هم وه، ملاتړ به يې کاوه، دغه دوستي به د يوې مرتبې لرونکو د اشخاصو تر منځ کيده، په دې کې ځينې استثنايي حالت هم پيښيده او که داسې به شول؛ نو، د ټيټې مرتبې لرونکي شخص به د لوړې مرتبې لرونکي په ملګرتيا باندې وياړ کاوه، دوستي به د يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخص سره نه کيده، بلکه د ټولې کورنی سره به يې دوستي کوله او د هغوی سره به په پوره مينه او اخلاص سره مخ کيده.

د دوستی په شان دښمني هم د ډېر زيات افراط ښکار شوې وه، که د چا سره به ی اختلاف رامنځته شوه؛ نو، بيا به هيڅ کله هم د ياده نه ويستل کيده او کوښښ به يې کاوه، چې خپل مخالف شخص وروسته پريږدي او ذليل يې کړي، يو وخت ددې موخې د لاسته راوړلو لپاره فيوډالانو د غلو مشري کوله، تر څو هغوی د مخالف شخص رمې راوړي، ددې پيغام دا هم وه، چې زه ستا کور ته هم درتلی شم او ستا ساتنې ته زيان رسولای شم.

## د قانون نه لوړتيا

په عامه توګه به فيوډال ځان د قانون نافذونکی ګاڼه، د قانون پابندي کول به هغه د خپل ځان بې عزتي ګڼله؛ ځکه، د قانون مراعت کول هغه او نور عام وګړي په يو صف کې ودروي، په دې اساس د دوی او عامو خلکو لپاره جلا، جلا قانونونه جوړ شوي وه، ددې نه مخکې د سلطنت په دوران او مغلي دوران کې ستره ګناه او جرم بغاوت کول وه، ددې سزا به فيوډال ته سمدستي ورکول کيده؛ خو، په نورو جرمونو باندې به يې سترګې پټيدې، د سزا ورکول په وخت کې به د عام وګړي او فيوډال تر منځ توپير کيده، د بيلګې په ډول، د اروپا په زياتره ملکونو کې به عام خلک اعدام کيدل او د فيوډال به يې سر پريکوه، په فرانسه کې د انقلاب په دوران کې د ګلوټين اله رامنځته شوه، چې د مالدار او غريب سر به يې په شان پريکوه او دا د مساوات علامه وه.

حوالې:

۱- Critchley

۲- ايشوري پرساد، همايون (انګريزي) لاهور.

۳- د کافکا ناول (کيسل).

۴- مټکاف.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فـېوډ الـېزم (جـاګـيـرد اري)

۵- لطيف ګاها، قتل و معاشقي(اردو ترجمه، محمد اسماعيل) لاهور ۱۹۹۲.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**